# زۀ د خزان

# دَ پانړے پانړے سَره

# اورژیدم

## رحمت شاه سائل


د کتاب نوم: زۀ د خزان د پانړے پانړے سره اورژیدم

مصنف: رحمت شاه سائل

چاپ: وړومبے

کال: ستمبر ۲۰۰۷

شمېر: دوه زر (۲۰۰۰)

بيه: سل روپۍ (۱۰۰)

کمپيوټر چارې: عبدالله

ټائيټل: زاهد اعوان

د چاپ ځائے: دانش خپرندويه ټولنه-پېښور ۲۵۶۴۵۱۳


---


د سائل فون نمبرونه: 0932-300025

موبائيل: 0346-9302380_0300-9051925



درکونه:

۱) يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار - پېښور

۲) پښتو ادبي جرګه ملاکنډ

۳) سليم جالوان افتخار مارکيټ درګئي بازار - ملاکنډ ايجنسي


SAMSOOR.COM

○

د زړۀ د رزا مِ ثړیکه ثړیکه د سینے نه وته
لکه تقا تقا په بت کښے د نینے نه وته

ایسارے نۀ شوے کۀ مِ اوښکو ته جولۍ اونیوے
لکه چه مینه مِ د راز د افسانے نه وته

عشقه ستا ضد راته قسم دے چه دشمن ښکاره شو
نن مِ زړۀ درز کۀ چه پښتو د پښتنے نه وته

په سره فضا ئے ثۀ حیران غوندے تصویر جوړؤ
ثۀ شنه لوخړه مِ د وینے د چینے نه وته

هغے په خیال کښے خدائے زده ثومره زمانے لړلے
خو بس زما د خیال د سوے زمانے نه وته

ثومره ګویانه رنړا ګانے ئے په سترګو کښے وے
د داغ شعله چه د وجدان د ائینے نه وته

حسن کۀ اوځی د ابهام د کوره مری سائله
وه د وعدے نیته پوره د بهانے نه وته

SAMSOOR.COM

# ترانه

يه د پښتون جهان د سوز وطن د ساز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ – را کهٔ اواز وطنه

د ګل د غيرے نه مِ
لکه شبنم را واخله
خو د بنړو په ځوکو

په تا مِ تل کړے دے فخر په تا ناز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ – راکه اواز وطنه

زهٔ په جمال پسے مرم
زهٔ په جلال پسے مرم
زهٔ ستا په خيال پسے مرم

يه د جمال او د جلال د رنګه ساز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ- راکه اواز وطنه

SAMSOOR.COM

تهٔ د ګلونو وطن
تهٔ د سندرو وطن
زهٔ په سلګو ولے یم

ما خو په تا کړے تل فخر په تا ناز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ- راکه اواز وطنه

زهٔ چه باران باران شم
ستا د دامانو سپرلی
زما په زړهٔ وریږی

کله به ما په غیر کښے اخلے د اعجاز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ- راکه اواز وطنه

خپل پښتانهٔ سازونه
درانهٔ درانهٔ سازونه
د ژوندانهٔ سازونه

کړهٔ خپل سائل ته ئے وزرے د پرواز وطنه
اواز مِ اورے کهٔ نهٔ- راکه اواز وطنه

SAMSOOR.COM

○

څـهٔ دِ پـه سـترګو کښـے راواړول خمـار دِ کـړم
سـتا د بهـار ځـوانئے نـه ځـار سـدا بهـار دِ کـړم

دومـره داغونـه دِ د تـورو سـترګو راکـړهٔ پـه زړهٔ
درتـه بـه څـهٔ شـمارمه يـو يـو لالـه زار دِ کـړم

د دړد و غـم نـه ختميـدونکے خزانے دِ راکـړے
غريـــب سـړے وُمــه بــلا ســرمايه دار دِ کــړم

جانانـه زهٔ پـه مينـه څـهٔ پوهيـدم څـهٔ بولـه وُم
څنګه مئين څنګه نادان څنګه هوښيار دِ کړم

تـا وے چـه مـهٔ وايـه زمـا د سـترګو نـوره ثنـاء
سـتا مِ اونــه منــل بــے ځايــه ګنهګــار دِ کــړم

داسے که سل ځله خدائے ژوند راکهٔ، درځار به ئے کړم
ټـېر دِ يـخ شـهٔ اوکـهٔ نـهٔ شـهٔ چـه پـه دار دِ کـړم

ما درته وے سترګے په وار پورته کوه مړ به شم
هلـه قـلار شـوے نـا قـلاره چـه قـلار دِ کـړم

په نيت به څنګ ستا د نظر د قاتل نهٔ پوهيدم
پښـتون وم درغلـم او بـس د يـو ديـدار دِ کـړم

د پيرزوينو دِ لوګے شم د ســـا ئـل جانانه
چه دِ په تلو تلو کښے راؤنهٔ کاتهٔ خوار دِ کړم

SAMSOOR.COM

○

د مینې راز کهٔ مِ په دار نهٔ کهٔ سنګسار مِ کئې
سر د ارمان کهٔ مِ سردار نهٔ کهٔ سنګسار مِ کئې

خپل تږی قام له مِ یوه د جانان اوښکه غواړم
کهٔ مِ پرے ټول اولس خمار نهٔ کهٔ سنګسار مِ کئې

شـاته د خپلـو معنـو مـهٔ پټـوئې سـرهٔ خالونـه
کهٔ مِ پرے هر زړهٔ لاله زار نهٔ کهٔ سنګسار مِ کئې

زهٔ د ګـل تخـم یمـه مـا پـه بیابـان اوکـړئې
کـهٔ بیابـان مِ سـور بهـار نـهٔ کـهٔ سنګسـار مِ کـئې

مـا د هغـو سـترګو د درد لـه میخـانې مـهٔ شـړئې
کهٔ هر خونخـوار زړهٔ مِ میخـوار نهٔ کهٔ سنګسار مِ کئې

دلبران شته خـو دلداری بے لـه پیسے نـهٔ کـوی
کـهٔ هـر دلبر زړهٔ مِ دلـدار نـهٔ کـهٔ سنګسار مِ کئې

SAMSOOR.COM

هغه دِ نیم نظر او نیم شان تبسم خو اوکړی
کۀ مِ بلا کۀ مِ بسیار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

چه وینے خال ته او د خال خمار شبنم ته ورکړم
کۀ لیونے مِ لاله زار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

زما د دړد شوندو نه سوز د شپیلئے مۀ شوکوئ
کۀ مِ اودۀ جهان بیدار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

ما د لوټ شوؤ ګل دامانو تصور ته پریږدئ
کۀ هر کمر مِ مرغوزار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

جنج د څو ستورو د سپوږمئے د ډولئے خیال له راکئے
کۀ مِ د شپے ګریوان تار تار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

بیلتون دِ ما لره د الفت په زمانه کښے پریږدی
کۀ دا روان وخت مِ ایسار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

ګل پاڼرے نۀ سهی په ما دِ کاڼړی اووروی
کۀ کاڼرے کاڼرے مِ فنکار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

سا ئله بس یو هنګامه! خو د جانان د
خندا

SAMSOOR.COM

## دا ویرانی کۀ مِ بازار نۀ کۀ سنګسار مِ کئے

SAMSOOR.COM

○

چه سپرلی سیزی د لمبو په زړهٔ به څهٔ تیریږی؟
د ګل دامانو ګل میرو په زړهٔ به څهٔ تیریږی؟

یو حقیقت هم چه په سلو پردو نهٔ پټیږی
د فن پارو او افسانو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

د پښتنو سترګې چه خوئی د فرشتو زده کوی
خدایه د ژوند د تماشو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

چه وطن جیل شی،شی بندی په کښې ګناه د جمال
د محبت د لیونو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

ګلاب ګلاب خمار خمار سترګې دِ پټې کړلې
ستا د ازغو ازغو بنړو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

چه دے د جام د ویرے رپی، جام د دهٔ د ویرے
وایه ساقی! د میخانو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

چه زلمی ژوند ګنړی ګناه، پیغلے نازونه ګناه
سائله ستا د ترانو په زړهٔ به څهٔ تیریږی

SAMSOOR.COM

# او .... ما کابل ولیدو

ما به کابل کابل کوؤ، نن مِ کابل اولیدو
هغه کابل چه مِ د خوب چه مِ د خیاله جوړ دے
د نرګسی جانان د زرکو زرکو سترګو په شان
چه هر تصویر ئے د فطرت د خط و خاله جوړ دے
لکه د مینے د اسمان د ټال اووهٔ رنګونه
اووهٔ لړونه لونګین د خپله ټاله جوړ دے
د کوه قاف د ښاپیرو د تصور مملکت
لکه د ناز لکه ادا د خپل جماله جوړ دے

څوک څهٔ خبر دی چه ما پټ په زړهٔ کښے ټول راوړے
لکه د ګوتو د جانان نه مِ غانټول راوړے

پیاز دِ وی خیر دے خو په نیاز دِ وی خوږو ملګرو!
کنډر کنډر دِ وی خو وی دِ د پښتون کابل
چه د وطن ایمان په هر تندی کښے اوموسیږی
یوه ګهړئ دِ وی خو وی دِ د ژوندون کابل
چه هر کردار ئے وی ژوندے په مینه، مړ په مینه
چه شی د مینے افسانه لکه افسون کابل
چه خبر لوڅ ئے هر تصویر شی د ځلمو فکرونو
چه ئے موضوع چه ئے عنوان شی د مضمون کابل
چه په تئیرو وکړی حملے اور اورکی خیالونه
چه لکه شال خور شی په زړونو سباوون کابل

چه ئے مرغئے سندرے بیا د خط و خال اووائی
چه ئے ثناء منکرے شونډے د جمال اووائی

SAMSOOR.COM

کابل منم چه د بارودو بوئی به هم وی پکښې
خو د ګلونو وږمې هم ترې چرته تلی نهٔ دی
کابل منم چه ګټې لوټې شو تالا والا شو
خو لا ئې غرونه د خپل ځایه خوزیدلی نهٔ دی
کابل منم چه ئې بڼرونه په لمبو سوی دی
خو سندر بولې مرغئې لا ترې الوتلې نهٔ دی
کابل د داسې ژوندون ښار دے چه ئې مرګ ستړے کهٔ
د ځلمو سترګې ئې له مرګه رپیدلی نهٔ دی
کابل زرګونه حادثې او زلزلې ولیدے
خو د چا زړونه د یو شوره غورزیدلی نهٔ دی

کابل کابل دے په هر حال کښې به کابل یادیږی
چه دا دنیا وی ښو اباده، دے به تل یادیږی

کابل یواځې د ښائست د خیال شهرت نهٔ لری
کابل متاک هم دے، سنګین هم دے، فولاد هم دے
کابل یواځې د بیلتون د ساندو غولې نهٔ دے
کابل ساقی هم دے، شهید هم دے، مراد هم دے
کابل جلال دے ښوک دِ سترګې پرې اونهٔ سوزوی
کابل کلتور هم دے، دعا هم ده، امداد هم دے
کابل څهٔ داسې د ژوندون میله کښې ورک هم نهٔ دے
کابل دے زړهٔ د ایشیا په دنیا یاد هم دے
کابل چه ښوک رنځورول اوغواړی، رنځور به ئې کړی
کابل عظمت هم دے، دولت هم دے، ازاد هم دے

کابل د ډیرو خیالؤلو عظمتونو کور دے
کابل تش نوم نهٔ دے د مینې د ننګونو کور دے

SAMSOOR.COM

ما ورله یوړهٔ د خپل فکر او نظر ګلونه
ما کهٔ ترے راؤړهٔ سرهٔ اورونه سرهٔ ګلونه مِ کړهٔ
ما ورله مینه یوړه مینه د پښتون د وفا
ما کهٔ ترے دوړے په سر هم راؤړے شالونه مِ کړهٔ
ما ورله یوړهٔ د سندرو د دړدونو خواږهٔ
ما کهٔ ترے ډیر تراخهٔ هم راؤړهٔ شربتونه مِ کړهٔ
ما پیښور پیښور خیال د ځان سره وړے ؤ
د خپل غفور لیوال[1] سوالونه جوابونه مِ کړهٔ

کهٔ د هغے ځائے جانان اوخندل کهٔ ما اوژړل
هر څهٔ چه اوشو په یو تار مو زړونه هم اوتړل

د ماهیپر[2] نه اخوا هغه سحرګره هوا
اوس هم زما د زړهٔ په دشت کښے خوشبوئی شی ګرځی
د هغو لارو کوڅو ورکو کوڅو ورک خیالونه
زما د خیال په دریچو کښے پسرلی شی ګرځی
د هغے ښار د هر سحر هر مازیګر نندارے
زما په ذهن کښے جنون شی او مستی شی ګرځی
د هغے خلکو الفتونه او د سترګو حملے
زما د روح ګلشن ته راشی لیونی شی ګرځی
د هغے ښار دانش دانش او اسد جان اسد جان
چه هر دیدار ته مخامخ شی الوانی شی ګرځی

د سروبی غونډئی زما زړهٔ کښے کیږدئی کیږدئی شی
هره باړ ئی، باره، څهٔ ګل ګل، څهٔ کلئی کلئی شی

SAMSOOR.COM

(۱)- غفور لیوال یو ښکلے ځوان شاعر چه زما د یو نظم په جواب کښے ئے ډیر ښکلے نظم لیکلے ؤ.
(۲)- ماهی پر هغه سرک چه اخوا ترے کابل دے.

ما د کابل د شاعرانو وسوسے تلوسے
په خپلو سترګو کښے خوبونه هسے اوګرځول
د هغو شونډو، هغو سترګو د رنګونو خمار
ما مِ په زړهٔ د پرهرونو هسے وګرځول
هغه پښتو پښتو نظر هغه تاؤ کړی بانړهٔ
ما په نظر کښے د ګلونو هسے اوګرځول
هغه رانړهٔ رانړهٔ تندی ګلاب ګلاب خالونه
ما په ليمو کښے د خوبونو هسے اوګرځول

زهٔ لا د هغے تماشو نه ليونے ګرځمه
زهٔ لا ځلمے زهٔ لا ځلمے زهٔ لا ځلمے ګرځمه

هغلته هر څو که د باغ بالا نښه نهٔ وه
ما په خپل زړهٔ کښے د هغے نه يو تصوير راوړے
هغه ميوزم چه ئے همه مجسمے ماتے وے
ما ترے د روح په ائينه کښے يو تاثير راوړے
هغه د غرهٔ نه دواړو غاړو ته تاؤ شوے کابل
د هغے غر ديوال مِ غاړے له زنځير راوړے
هغه کندړ کندړ کوځے لکه ګويانه ژبے
ما ترے خيالونو له خوبونو له تقدير راوړے

چرته به ځم او د کابل په غر به ټال اچووم
د ژوند د نوو تماشو په سر به فال اچووم

ځم به چه ښکل کړم د کابل د شاعرانو شونډے
چه ئے په شونډو د ازغو په ځائے ګلاب خوارهٔ کړم

SAMSOOR.COM

چه په سرو ډزو کښې هم اولیکی نغمې د مینې
چه ئې په زړونو لاس د مینې د کتاب خوارهٔ کړم
ځم به چه ښکل کړم د کابل د سندر غاړو تندې
چه بیا په لوړ اواز سندرې د الفت اووائي
چه فضاګانې سندریزې شي مست مست شي زړونه
چه څهٔ خو حال د کائنات د کیفیت اووائي

چه لازواله شي په هر حال کښې نغمې د ژوندون
چه مستقبل شي رنګ رنړا، ګل او سپرلې د پښتون

کابل کهٔ کانړې دے په زړهٔ کښې به ئې کور جوړوم
د دغې کانړی د وجود نه به صنم تراشمه
هغه چه الوزی بلا بلا ریګونه پکښې
په هغو لارو او کوڅو کښې به خپل ځان شیندمه
په هغو خړو خړو تړو خړو خاؤرو کښې به
چرته غانټول، چرته ریدے، چرته لونګ کرمه
چه شاعری لکه سمسور سپرلې خبرې اوکړی
چه کړم په څانګه څانګه، ګل بل لکه شمع شمع
چه کړم همه میلې میلې اختر اختر کابل
چه سترګې سترګې کړم کابل نظر نظر کابل

ددے نه پس کهٔ سائل مری په زړهٔ به ئې داغ نهٔ وی
خو چه یو کور نه وی، چه بل پکښې چراغ نهٔ وی

SAMSOOR.COM

○

د پښتنو غرونو چینې دِ بې چیناره نهٔ شي
هیڅ یو چینار دِ بې مرغو او بې چغاره نهٔ شي

لیچې دِ چرې خالي نهٔ شي د بنګړو نه د چا
مازیګرې دِ د ګودر بې شړنګهاره نهٔ شي

د خوبه ډکې ډکې کیږي د هر ستورې سترګې....
سپوږمۍ خبر کړئ چه په غرونو کښې ایساره نهٔ شي

زهر ګندېر شي ژوند، د ژوند لاش په اوږو ګرځوي
سرې تالا ښهٔ دې خو چرې دِ بې یاره نهٔ شي

SAMSOOR.COM

چه ستا تر کوره په کږه وږه لار تاته ګورم...
نيغه دِ هيچرې زمونږ د نصيب لاره نۀ شي

يو ليونی ته مِ د مينې د معنې اووئيل
هغه وې هر څنګه چه شي خو بې ديداره نۀ شي

دنيا خبر کړئ چه د ډز د غږ نۀ ژبه پريکړي
زمونږ دنيا په خوب اوده ده چه بيداره نۀ شي

راسره غم دې چرته ما د زمکې لاندې نۀ کړي
مينه د خپل خيال د اسمانه راګزاره نۀ شي

جانان ته هم کۀ مِ سربشکته کۀ نو مړ به شمه
زړۀ مِ کاواک نۀ شي، بې سرۀ، بې اختياره نۀ شي

چه څوک په کړنګ سپرلي کښې هم جانان له ګل ورنۀ کړي
خدايه! زما خاؤره دِ داسې خوار و زاره نۀ شي

تازه کوې کۀ خامخا په زنه ورک خالونه
دا کار بغير زما د زړۀ د لاله زاره نۀ شي

د سائل روح بې قراري د ځان سره راوړي
چه ښائست ګل ګل شي نو څنګ به بې قراره نۀ شي

SAMSOOR.COM

# اوس ازاد شوے غلام

ما نن په دے هکله په ځان باندے يو سوال اوکړو
د غلامئ دور او دے دور کښے فرق څۀ دے؟
ذهن د ډير فکر نه پس، بس يو جواب راکړو
د غلامئ دور کښے
به خودکشي ګناه وه، جرم به ؤ
د غلام مرګ به د مالک دپاره
وه د تاوان او د نقصان خبره
نن سبا دومره غلامان ډير شوی
چه نۀ ئے ملک، نۀ ئے مالک قبلوی
ورله زاړۀ مالکان
د خاندان د جوړولو منصوبے جوړوی
او کۀ څوک اوغواړی چه ځان قتل کړی
نو يو مالک ئے هم ګناه ګڼړی نه جرم ګڼړی
نن هر سړے ازاد دے
کۀ ځان وژلے شی نو ډير په خوشحالئی دِ مړ شی
دغه کار شی کولے
ډير په ازادئی دِ مړ شی
هيڅ پابندی پرے نشته
اوس ازاد شوے غلام

SAMSOOR.COM

○

دا لکــه نــرګس بیمــار بیمــار کاتــهٔ مِ اووژنــی
دا نــادانے ســترګے او هوښــیار کاتــهٔ مِ اووژنــی

داسے سترګے پټے بانړه زر زر ښکته پورته کړی
دا بــے واره غشــی او پــه وار کاتــهٔ مِ اووژنــی

کرښے مِ په زړهٔ شی کرښے واخلی د تصویر شکل
دا دلبرانــه خــوئی او دلــدار کاتــهٔ مِ اووژنــی

زړهٔ مِ وینے وینے کړی ګل ګل ئے کړی ګلشن ئے کړی
دا بهــار بهــار ســدا بهــار کاتــهٔ مِ اووژنــی

دا چه سا ئـل اونهٔ وژنی مری ســا ئـل په دے
ادا

SAMSOOR.COM

## هغــه پامتــه دار او منــت بــار کاتــۀ مِ اووژنــی

SAMSOOR.COM

○

د بهارونو نه رنګ چرته رنړا چرته تلے
د ګل د شونډو نه ادا او خندا چرته تلے

نۀ پکښے ګل راپریوت نۀ ترے لمبے پورته شولے
د یار د لپے نه ښیرے او دعا چرته تلے

هر چا ثواب له قتل کړے نادانی د مینے
د مئینانو نه د مینے ګناه چرته تلے

هر لفظ خالی جولئی نیولے ده حیران ولاړ دے
د دوئی د مخ د ائینو نه معنا چرته تلے

ما درنه خوب تختوی ما درنه خوب وړی لیونئی
چه ستا د لیچو د بنګړو نه شنړا چرته تلے

SAMSOOR.COM

○

جانانه ستا غم غږومه ناست یم
ډیوې د اوښکو بلوؤمه ناست یم

پریوزم ستا د یاد د ګل په لمن
لکه شبنم ځان ورؤمه ناست یم

زما بلا مینې بلا دِ واخلم
ګوره ما شپه خوری زهٔ شپه خورمه ناست یم

را دِ کهٔ یو تار د پریشانو زلفو
پرې خپل تازه پرهر ګنډمه ناست یم

د شپې ثلور پاره ثلور موسمه
د زړهٔ په تار تار ټنګؤمه ناست یم

SAMSOOR.COM

○

بس چه شو یو ځل غاړه په غاړه سره اوڅاړو
ځه چه لږ په چغو چغو دواړهٔ سره اوڅاړو

لږ ساعت ددے بُتکی په شا، شاته رااوګوره
درغلم درځم چه په ولاړه سره اوڅاړو

راشه یه زما د مینے تک توره سپیره بخته!
کېده د جانان د کلی لاړه سره اوڅاړو

هغه لیونئی لارے کوڅے خو لاړے شاړے شوے
ځه زړهٔ! چه په واز کومی په شاړه سره اوڅاړو

ځه چه د "جیندی" او د "خیالی" سره سیالی اوکړو
ځه چه ئے یو شپه په غاړه غاړه سره اوڅاړو

ځه عشقه راځه چه اوځو دشتو ته دامانو ته
ځه چه پشکال هسے د هاړه سره اوڅاړو

نبستے په مرئی کښے غریو نیولے اسوئلے سا ئل!
ځئے چه ورشو یه ملګرو واړه سره اوڅاړو

SAMSOOR.COM

کله لکه سور ګلاب او کله د لمبې په شان
په مینې تصویر دِ زهٔ لمبه کړم کهٔ ګلاب ئې کړم

ستا د اندرون تارونه ماته څهٔ وئیل غواړی
تهٔ کهٔ خفه کیږې نهٔ جانانه چه رباب ئې کړم

لړې شونډې پرانیزه بس دومره راته اووایه
شور ئې کړم کهٔ اور ئې کړم تپ ئې کړم کهٔ تاب ئې کړم

زلفې دِ زما د تصور مرئی ته پریوتې
سوال ئې کړم د ژوند، کهٔ د لحظې لحظې جواب ئې کړم

ما خو ستا د زړهٔ د دشتې ټولې غوټئې ګل کړلې
اوس پرې تهٔ سکون پیرزو کوې که اضطراب ئې کړم

اوس خو شمع هم لمبې لری او پتنګ هم سوزی
څه کهٔ نه اوس اووایه ګناه او کهٔ ثواب ئې کړم

ما تاله په دوه سترګو کښې دوه اوښکې راوړی دی
اووایه طوفان، کهٔ سمندر او کهٔ سیلاب ئې کړم

تا چه خپل سائل په تندی ښکل کهٔ بختور دِ کهٔ
راز ئې کړم رموز ئې کړم سندره کهٔ کتاب ئې کړم

۲۱ جولائی ۲۰۰۲ د جمعې سحر پاؤکم اتهٔ بجې

SAMSOOR.COM

## يه زما مينې

يه زما "مينې" ليونئ سپيلنئ مينې زما
زۀ چه ستا حُسن تصور کړم ستا تصوير ته ګورم
په زړۀ کښې وايم چه دا زۀ ګنې اوس اوزېږېدم
چه په خپل زړۀ ليکلي شوی ستا تحرير ته ګورم

تۀ ماته اووايه تۀ هغه فرشته خو نۀ ئې
چه د ازل په ورځ ئې ماله څۀ ليکل په زړګی
شونډې ئې سرې وې او خالونه ئې په مخ موسيدل
ماله ئې تور سوی داغونه کيښودل په زړګی

يه زما مينې ليونئ، سپيلنئ مينې زما
چه په ړومبی نظر مو اوليدل حيران وؤ دواړه
مونږ په يو بل پسې د ذهن پاڼې واړولې
جوړ د ازل نه مونږ د يو بل په ارمان وؤ دواړه

SAMSOOR.COM

ستا د خبرو په اهنګ کښے زما غبږ ورکیدهٔ
زما د غبږ په تپ او تاؤ کښے ستا اهنګ ورکیدهٔ
دواړه په یو بل پسے ورک دوه بے قرار روحونه
دواړه د یو بل د جذبو په رنګ کښے رنګ ورکیدهٔ

څومره جدا جدا وو څومره څنګ په څنګ اوسیدو
څنګه وؤ بیل، څنګ د یو بل په رنګ کښے رنګ اوسیدو
زهٔ وُوم "رید ے" تهٔ مِ یو سپېرد ے غانټول څنګ ته ولاړ
څنګ د رنګونو د بهار خوا کښے بدرنګ اوسیدو

یه زما مینے لیونئی سپیلنئی مینے زما
څهٔ ډیره ښه شوه چه تهٔ راغلے او ګویانه دِ کړم
زهٔ د خوبونو د جهان د تصور باشنده
د خوبه ویښ دِ کړمه ورک د خپله ځانه دِ کړم

اوس رانه مهٔ څهٔ چه اباد کړو دا د زړونو جهان
راشه چه ګل ګل کړو د نوؤ پرهرونو جهان
چه غورزنګونه کړو شور شور کړو د خوبونو جهان
جنت جنت کړو د زړهٔ چاؤدو ارمانونو جهان

یه زما مینے، لیونئی سپیلنئی مینے زما
چه په یو بل کښے سره ورک شو سره مینه اوکړو

SAMSOOR.COM

# "تخلیق"

هغې په زيړ الوتی رنګ په وچو وچو شونډو
بې ساه بې ساه اووئيل سوری ته شه!
بيا ئې پخپله درزيدونکې سينه
زما لاس کیښودو، او خپل لاس ئې زما په زړګی
بيا ئې زما سترګو ته
لړ په زير زير اوکتل
بيا ئې وې داسې لمحه ځنګ لمحه وی
چه د همه جهان مئينې ځوانئی
ورته اوبهٔ اوبهٔ شی اوپسخيږی
بيا ئې په ويره ويره
چاپيره زر زر سترګې واړولې
وې بله دا چه په دې ټول جهان کښې
نن داسې ځائې ما ته په ګوته که تهٔ
چه ئې د ټولې دنيا
يو جنت او يو ګلستان
سيالی کولې نهٔ شی
ما وې چه ستا دا وارخطا او بې قراره نظر
ويرې اخستې نظر
چه ئې زما په سترګو څو قسمه حملې اوکړلې

SAMSOOR.COM

دا لمحه دومره بختوره وه چه

ورته د دے دنیا د ژوند ټولے لمحے اودریدے

ټول کائنات خاموش وؤ چرته هیڅ شی رپ نهٔ وهٔ

چرته کښے پاڼړے هم ساه نهٔ اخسته

دوئمه دا چه د لمحے نیمے په دے دیدن کښے

چه د حالاتو قاتلان راته په سر ولاړ دی

زمونږ په ځوانو لیونو مخونو

یو رنګ ټکاؤ نهٔ کوی

بیا هم ولاړ یو او یو بل ته ګورو

دا ځائے ددے دنیا

د هر جنت او هر ګلستان

د هر سپرلی نه هم سیوا ښکلے دے

هغے د دغے "سوال" په داسے جواب

زما د شونډو نه بوسه واخسته

داسے بوسه چه پرے ایمان تازه شی

داسے چه داسے بل جهان تخلیق کړی

داسے بوسه چه زما ورک شخصیت

بیرته را اوزیږوی

ددے نه پس هغه په منډه لاړه

په خپله لویه دروازه ننوته

روح ئے زما د روح لمن نیولے

د ځان سره یوړله

SAMSOOR.COM

○

ښکلې د تخليق د ځوانئ سترګو ته راغلې وه
دا دنيا د نوی پيغلتوب په شانِ ښکلې وه

هره تمنا مِ لکه شمع سوزيدلې وه
هره ولوله مِ لکه اوښکه څڅيدلې وه

مېری ورله نهٔ وړم مستقبل اديره نهٔ کړم
ما مِ د ماضی لمحه ژوندئی ساتلې وه

هسې په دې لار په تيندکونو باندې نهٔ تلمه
دا لار د جانان سترګو ته نيغه رسيدلې وه

خپل قتل مِ اوليد، ستا قاتل نظر مِ هم اوليد
سترګو دِ نن داسې تماشه راته ښخښلې وه

اوښکه مِ خوره نهٔ شوه طوفان ترې نه پيدا نهٔ شهٔ
داسې دِ د پټ ورک تبسم په تار تړلې وه

هغه حادثه لکه تصوير په کاغذ پاتې شوه
کومه حادثه چه د سائل قلم ليکلې وه

SAMSOOR.COM

○

لکه چه ژوند کړی په ولاړه کښے صنم وی روان
داسے مِ فکر د فن کور ته په قدم وی روان

ستا د جبین د تصور په کومه لاره چه ځم
یو خوا ژوندون بل خوا اجل راسره سم وی روان

تخلیق یوه معنا پیدا کړی فن ترے سل جوړے کړی
په ځائے ولاړ نظر ډیر لرے د صنم وی روان

ګل او سپرلی له باران غواړی کلیوالے مینے
چه ئے په یو لاس کښے غانټول بل کښے شړشم وی روان

داسے مِ اوښکے درپسے باران باران شی په مخ
لکه جلوس چه په صحرا کښے د ماتم وی روان

ترقئی نه داسے د ذات غم دنیا یو کلے کړ
لکه د خپل ژوند قتل عام له چه عالم وی روان

چه روح ئے ستا د قدم ټال په لاره اوځنګوی
ستا د سائل د خیال په ګوتو کښے قلم وی روان

SAMSOOR.COM

## سندره

څړیکـــه د دړد ژبـــه ده
دړد د پرهــــر ژبـــه ده
ګـــل د ســپرلی ژبـــه ده
اور د دلبــــر ژبـــه ده

دلتـــه پـــه دغـــه ژبـــه
پوهیدل ډیر ګران دی
کـــهٔ د ادا ژبـــه ده
کـــهٔ د نظـــر ژبـــه ده

زلفــے ئــے یـــو تماشـــه
جـــبین ئـے دوه ننـــدارے
هغـــه د شـــپے ژبـــه ده
دا د ســـــحر ژبـــه ده

پـه اوچـو شـونډو چـه مِ
لګـــی مــرهم اولګـــی
داسـے لونـــده لونـده مِ
د ســــتمګر ژبـــه ده

SAMSOOR.COM

ګیلې مانې د مینې
مینه ژوندئی ساتی
ګیله د مینې د جنګ
او شور و شر ژبه ده

ماته کنځل هم کوه
خو په پښتو ئې کوه
پښتو زما د وطن
د لر او بر ژبه ده

زهٔ په پښتون وطن کښې
په څهٔ څهٔ ناز اونهٔ کړم
پت پښتنه معشوقه
وفا د نر ژبه ده

سائل ته ډیر دړدونه
ورکه مالدار ئې که
دړد د تصویر ژبه ده
دړد د هنر ژبه ده
ګل د سپرلی ژبه ده
اور د دلبر ژبه ده

SAMSOOR.COM

○

څهٔ په غرور باندے قیمت د خپل ارمان راکوی
وخت چه په ګوتو کښے ریښے ریښے ګریوان راکوی

د سرمائے د مستئی نوے سبق نوے پیغام
ماته د ورک وجود د شتو د احساس توان راکوی

غمژن به هم وی خو اوس هم ادا ادا د وطن
هر څهٔ هم هغسے په ځار او په قربان راکوی

یوه ورمه د هر موسم په باد کښے داسے هم وی
چه ماله نښے نښانے د خپل جانان راکوی

ستا د یوے خندا زره به پرے هم ورنهٔ کړمه
کهٔ څوک په دے سودا کښے تخت د سیلمان راکوی

د محبت د کلی هر دستور د ژوند نغمه وی
جانان مِ کله کله ګل هم په ډیران راکوی

سائله دار او دیدار دواړه خپل نصیب اوګڼړه
چه اشارے جانان د نوی امتحان راکوی

SAMSOOR.COM

○

محبتونه په منطق او فلسفه نهٔ کیږی
دا سبق داسے دے چه دا په مدرسه نهٔ کیږی

د شک د هرے لارے سر چه ځی ابهام ته رسی
د مینے لوبه د تصویر په تماشه نهٔ کیږی

کاسے د سترګو چه په سترګو کښے راوانهٔ ړوے
زما د زړهٔ تسکین په بل قسم نشه نهٔ کیږی

چه ئے چپے چپے له غاړه ورکولے نهٔ شے
د سمندر سره یاری په کناره نهٔ کیږی

مینه خو ژوند دے نغد زړګے غواړی د زړهٔ په بدل
د ژوند سودا خو د نسیاوؤ په نیته نهٔ کیږی

کهٔ خپلے اوښکے ورته اچوؤم کهٔ وینے د زړهٔ
نهٔ دے ممکن، د "کاریګر" په تجربه نهٔ کیږی

SAMSOOR.COM

○

په سر ئې ګرځولي يو بازار په بازار
مونږ ژوند کړې د داسې کاروبار په بازار

سرونه مو پرې تاؤ کړهٔ خو سرونه مو ترې راوړهٔ
شو وازې سترګې پاتې خريدار په بازار

ګرم نهٔ يو کهٔ د سترګو نه مو سرهٔ بڅرکي دانګی
راغلي يو د زړونو د ازار په بازار

د سوال په تصور مو هم د لاسونه ساه خيژی
مو دې اوشوې چه نهٔ کيږی روزګار په بازار

په سور نمر کښې په سرو لمبو کښې پلې خپې ولاړ يم
په کوم اميد د څهٔ په انتظار په بازار

"نرګس" هسې بيمار، لکه "ريدې" غمژنې سترګې
قيمت څهٔ ؤ د داسې لاله زار په بازار

سائل د بيلتانهٔ د ليونئي تپې نه مخکښې
کړه چغه ياره چرته ئې درزار په بازار

SAMSOOR.COM

## زهٔ او "پښتون"

تهٔ د تقسیم شوی پښتون ژبه ئے پښتو ئے
زهٔ د تقسیم شوی قام شاعر یمه سائل یم

تهٔ ئے سمندر زهٔ دِ چپے زغمم ساحل یم
ستا نه چه غافل یمه، د خپل ځانه غافل یم

SAMSOOR.COM

# خپله ژبه

زهٔ مِ د خپلے ژبے کومه کومه
بد نصیبی اوژاړم
چه غلامی وه نو هم
دا وه غلامه ژبه
چه ازادی شوه نو هم

SAMSOOR.COM

دا شوه غلامه ژبه
نهٔ د اسکول ژبه شوه
نهٔ د کالج ژبه شوه
نهٔ د دفتر ژبه شوه
نهٔ د قانون ژبه شوه
سره ددے چه د زرګونو کالو
د یو ډیر زوړ قام مورنئی ژبه ده
د بیګانګئے په داسے سوړ انګړ کښے
هم خپله لار غړوی
خپلے خړپوسے کوی
کهٔ ئے پخپله په ځان زړهٔ هم سوزی
خو په ځان ناز هم کوی
ولے ددے باوجود
نن سبا حال داسے دے
چه دا ژوندئ ژبه، د ژوند او مینے جوړه ژبه
په یو بے رحمه مصنوعی ادبی
او سماجی ماحول کښے
د خپلے ژبے نه زوړنده ده خو
بیا هم د ژوند او محبت سندرے
په خپلو چاؤدو غوڅو غوڅو شونډو
په غوځه ژبه وائی

SAMSOOR.COM

○

زمــا نشــه زمــا ســرور زمــا شــراب جانــان
زمـا ژونـدون زمـا سـپرلے زمـا ګـلاب جانـان

بویه کۀ راشی ګودر بویه کۀ ترے اوخیژمه
داسے لاهـو کړمه د سترګو په دریاب جانان

عمرونه تیر شو خو ددے مرحلے تیر نۀ شومه
سوال خو مِ اوری ولے نۀ کوی جواب جانان

زما په شونډو کښے سندرے هسے نۀ غړیږی
زمـا پـه زړۀ کښـے غړیـدۀ لکـه ربـاب جانـان

تر عمره عمره ئے د ذات د کوره ویستے یمه
دے مِ پـه هـره ګناه خـور لکـه ثـواب جانـان

پـه زړۀ مِ بـل تصـویر او بـل تصـور نـۀ ځـائیږی
داسے خراب کړمه زۀ خپل خانه خراب جانان

سـائل د میـنے مبلـغ سـائل د زړۀ جــوارګر
زمـا نغمـه زمـا غـزل زمـا کتـاب جانـان

SAMSOOR.COM

## د نوے پیړئے راتلو په نوم

نوے کال نوے اختر نوے پیړئی ده
جانه راشه، جانه راشه
ماته ګران جانانه راشه
چه مونږ هم د هغے لوئے خدائے په دربار کښے
یوه داسے دعا اوکړو
چه زمونږ زړونه درزیږی
چه زمونږ شونډے رپیږی
د وطن ټول اخترونه
د دامانو بهارونه
راته ټول په تماشه وی
د شبنم د زړهٔ داغونه
د ګلونو ګریوانونه
راته ټول په تماشه وی
چه زمونږه دعاګانے او سندرے
ترجمانے د ژوندون وی
او ستائنے د جمال وی
چه جمال وی او ستائنے د جمال وی
چه نعرے وی او غوښتنے د وصال وی
داسے ژوند داسے هنر داسے کمال چه
زوال نهٔ لری جانانه

SAMSOOR.COM

○

لکه د بادمِ نن د خیال په بنړ الوتے جانان
لکه د غریوم د مرئی غوټه کښے نښتے جانان

ککئے د سترګو اوس ککئے زما د سترګو نۀ دی
په ائینه کښے د نظرمِ ننوتے جانان
څوکه مِ ډیر په پرهرونو کښے د زړۀ نغښتے ؤ
لکه د څړیکے مِ د دړد د ګوتووتے جانان

دا هسے نۀ ده که خوئی بوئی د باچایانو لرم
په ملنګئی کښے مِ کۀ خدائے غمے د ګوتے جانان
په ځان ئے پوئے نۀ کړم تس نس زرے زرے ئے کړمه
لکه د تندرمِ په سر دے راپریوتے جانان

سائل یم دا دے خپل ټوټے کچکول مِ غاړے ته کۀ
ګرځم کوڅه په کوڅه ګورمه بے پتے جانان

SAMSOOR.COM

○

نهٔ مِ د لاس کرښو کښې ؤ نهٔ په تندی کښې جانان
مینے درځار تا مِ تصویر کړو په زړګی کښې جانان

هغه چه یوځل مو محفل ؤ سره کړے پکښې
اوس راته ښکاری په هر زیړ مازیګری کښې جانان
زما د عشق ځوانی د ګلو په لمبو سوے ده
ما نه ورک شوے دے د حُسن په سپرلی کښې جانان
د اودریدو امکان مِ نهٔ لری باران د سترګو
چه راته خاندی د هر ګل په کټوری کښې جانان
سحر مِ هرے اوښکے ګل په ګریوانهٔ کړے دے
ما چه ژړلے کله هم په ماښامی کښې جانان
ماته په وینو کښې د ژوند د خندا چل زده کوی
زما د خوږ زړګی د داغ داغ په ریدی کښې جانان

سائل د سپړدو ګلو خواته زندګی تیروی
سائل کړلے دے د مات زړهٔ په کودی کښې جانان

SAMSOOR.COM

# وطن ته راشه

مسافره خپل تالا وطن ته راشه
پسرلی راوله بیا وطن ته راشه

اوښکه اوښکه په بڼو کښے که حصاره
په سندرو په ګډا وطن ته راشه

سوزیدلے ګل درے په ګلو سرے که
غواړی ګل هره صحرا وطن ته راشه

لږ په سپینو جامو خړے خاورے باد که
لږ د مینے د ګناه وطن ته راشه

SAMSOOR.COM

بے لونګو دی سینے د لونګینو
د لونګو د صحرا وطن ته راشه

هر بتکے هره لار سترګے سترګے کیږی
دا کوځے غواړی ښکلا وطن ته راشه

د دروغو په بانو نهٔ کیږی مینے
په رشتیا لږ د رشتیا وطن ته راشه

د الفت د فلسفے پاتے سبق له
لیونیه د لیلی وطن ته راشه

په پردو کښے سړے ورک وی نهٔ شته کیږی
د باقی او د بقا وطن ته راشه

په خپل خیرے ګریوانهٔ به دِ هم نازوی
د ژوندون د تمنا وطن ته راشه

په خپل سر کښے خپل غرور درسره راوړه
د دادا او د بابا وطن ته راشه

خالقان چه د تئیرو دربانده بلوسی
په تندی راوړه رنړا وطن ته راشه

SAMSOOR.COM

د نرګسو خوشبوئی درسره راوړه
د غانټولو د بیدیا وطن ته راشه

د "ریدی" د زړهٔ د داغ د شغلے شوخه
د زیړ ګلی د خندا وطن ته راشه

د چنار د بام په سر ټپه شروع کړه
د نغمو د انتها وطن ته راشه

پرهرونه دِ د زړونو لارے څاری
راشه راشه مسیحا وطن ته راشه

کهٔ ئے وړے هم وړ سترګے خو به نهٔ ئے
لوئے وطن دے پښتونخوا وطن ته راشه

د زړګی داغونه ټول درسره راؤړه
د خالونو د رنړا وطن ته راشه

درنه سر نهٔ غواړی، سر درسپاری راشه
راشه راشه، بے بها وطن ته راشه

په پردی اسمان پردئی "زهرا" څهٔ ناز وی
خپل اسمان او خپل زهرا وطن ته راشه

SAMSOOR.COM

په پردی وطن دانا بنده نادان وی
یه نادانه یه دانا وطن ته راشه

الفتونه د وطن د ښکلو خوند کۀ
د زړګوټو د درزا وطن ته راشه

سودایان کړی خیالولی ښائستونه
روغ روغ خلک د سودا وطن ته راشه

چا خپل جنګ دے په پردی ټوپک ګټلے
مونږه پوئے که راهنما وطن ته راشه

یو به ورک ئے، بل به ورک په ځان پسے ئے
ځان به دلته کړے پیدا وطن ته راشه

په خپل کور په خپل وطن سړے، سړے وی
په غربت کښے وی باچا وطن ته راشه

د سائل د تخلیق توان له قوت راؤړه
دلته هر څۀ دی بلا وطن ته راشه

نوے کال ۲۰۰۷ دولس بجو نه تر دوه بجے

SAMSOOR.COM

○

زما د عمره عمره سره سم ، غمه جانانه
تهٔ چرته ئے تر څو به درپسے مرمه جانانه

تر څو به درپسے ورک یم د هجر په دشتونو
په سر به دِ د غم پیټی تر څو وړمه جانانه

دعوه مِ وه چه زهٔ ستا لیونے او سپیلنے یم
بس دومره که را مخ چه در لوګے شمه جانانه

SAMSOOR.COM

○

اور ئے بل دے په لمنه جانان راغے
د خپل ویشتی په پوښتنه جانان راغے

لولکئی چه مِ د سترګو پرے بنړیړی
د ګلونو د وطنه جانان راغے

وخت دَ سره نن تئیرے دی تبستیدلی
نن جونګړے ته د ننه جانان راغے

په ښکالو ئے د خپو سا راپکښے راغله
ساه مِ اووته له تنه جانان راغے

وخته نن زمونږ تر منځه رقیب نهٔ شوے
ستا بلا بلا مننه جانان راغے

تا خو وے چه تر قیامته به رانهٔ شی
د سائل زړهٔ دروغژنه جانان راغے

SAMSOOR.COM

## يو خيال

زۀ تمــام عمــر پــه خونخــوارو لارو تلــے يمــه
سر کـه زما هـم سلامت وی سلامت بـه څۀ وی

زۀ د ټــوټې وطــن، تــالا قــام، ورکــے ژبــے شــاعر
زما د فن عظمت به څۀ قدر و قيمت به څۀ وی

## حساب کتاب

دومــره زر قيمــت د نظــر مــۀ غــواړه جانانــه
زړۀ خــو رانــه داسـے پــه شــر مــۀ غــواړه جانانــه
دا د ژوند ميرے دی، خوبولے ګل ميرے نۀ دی
ســوری د ګلونــو پــه ســر مــۀ غــواړه جانانــه

○

SAMSOOR.COM

اوښکه ؤوم جانان په بنړو زوړند کړځولې ؤوم
سترګې ئې په خپله څڅيدې زۀ ئې ساتلې ؤوم

تۀ لکه سپرلې د خپل ديوال په کشمالو کښې ورک
زۀلکه "ريدې" ؤوم په دامانو رژيدلې ؤوم

هرې رويئې ته مِ يارانو ضد وئيلې دې
داسې مِ پښتو په خپله غيږه کښې نيولې ؤوم

ما پرِ بلے کړے موندے نۀ دی د نرګس ډیوے
زۀ خوم دِ خیال مزار لـه هره شپه راغلے وُوم

ګل وُوم خو په سور اور کښے چه هم تازه ولاړ وُومه
ستا د وربالۀ سیلئی سحر ماښام چیرلے وُوم

مړ به ئے وُو دغه حِس چه نۀ یم پیژندلے چا
اور وُوم دے همه پښتون وطن ته لوګیدلے وُوم

رپ قدرے مِ هم وهلے نۀ دے مودے تیرے شوے
یو تار دِ د زلفو داسے بند په بند تړلے وُوم

ګوتے څۀ که چا شونډے راوړی هم خور شوے یم
زۀ لکه شبنم د ګل د غیږے نازولے وُوم

دا دِ راته څنګه غنے لارے ته راښکلی دی
زۀ خو مینے ټول عمر په سرو غنو راښکلے وُوم

دا خو اوښکے نۀ وے څڅیدۀ مِ دړد د سترګو نه
داسے دے په زړۀ کافرو خلکو دړدولے وُوم

ستا نظر د زړو نۀ وُو جوړ لیدے دِ نۀ شومه
زۀ سائل فنکار وُومه، د فن د دنیا ښکلے وُوم

○

مینه مو هم کړې ده جنګ او شر مو هم کړې دے
جنګ شر مو هم کړې د ګلو کر مو هم کړې دے

هغې مــنګې راوړې مــا پسې کچکــول د نظــر
د مــازیګر د تماشــو ګــودر مــو هــم کــړې دے

مونږ کله کله د سپرلی نه سترګې سرې هم وړی!
او په یو ټال د ځنګیدو اختر مو هم کړې دے

مونږ د رنجو په ځائې په وینو تورې کړی سترګې
د خــونړو لارو کوځــو سفر مــو هــم کــړې دے

مــونږ د یــو بــل د پښــتنې میــنې زړهٔ هــم ســاتلې
وعده مو کړې د وعدې باور مو هم کړې دے

مینــه خــو مینــه وی تــر منځــه لــر و بــر نــهٔ منــی
خپل غم مو خپل ؤو غم د لر او بر مو هم کړې دے

دیـدن لـه کلـه غوښـتی مـونږ د چنـارونو سـوری
په بلـو کړو لمبـو هـم په نمر مـو هـم کـړےدے

ســائله مــونږ میــنې د چــا غلامــې کــړې نــهٔ دی
چه د "جانان" په سر ؤو ننګ لښکر مو هم کړې دے

SAMSOOR.COM

# سندره

ژوند د چا ئے جان د چا
جان د چا جانان د چا
مینه د چا ځان د چا
ځان د چا ارمان د چا

اووایه جان اووایه
اووایه په سرو شونډو

تهٔ زما ژوندون ژوندون
تهٔ زما د زړهٔ قرار
تهٔ مِ افسانه افسون
تهٔ زما بهار بهار

تهٔ مِ لیونے جانان
تهٔ مِ سپیلنے جانان
تهٔ مِ د پرهر ګلاب
ته مِ پسرلے جانان

SAMSOOR.COM

اووایه جان اووایه
اووایه په سرو شونډو

ستا لیونئی مینے مِ
کړو پرهر پرهر راټول
ستا نظر او ستا سترګو
کړو زما نظر راټول

تۀ مِ ئے نظر جانان
تۀ مِ د زړۀ سر جانان

اووایه جان اووایه
اووایه په سرو شونډو

ستا جبین او ستا جمال
دے زما مرکز د خیال
ما نیولے ستا په خال
دے د مینے نوے فال
تۀ ئے د سائل جهان
تۀ ئے د سائل جانان

اووایه جان اووایه
اووایه په سرو شونډو

SAMSOOR.COM

## ماسټر کریم

یره چه سِحر ؤ جادو که افسانه د کریم
د فن فضاَ به وی تر عمره مستانه د کریم

چه پکښې کوم پښتون ته ځان نۀ ښکاری مخ نۀ ښکاری
د پښتونخوا هومره وسیع ده ائینه د کریم

طنز و مزاح، ټپه، متل او روزمره ئې ژبه
څۀ په پخو کاڼرو بنیاد ده استانه د کریم

کۀ څوک یې ویشی نۀ نو چرې دِ یې ونۀ ویشی
په لوټ تالان هم نۀ کمیږی خزانه د کریم

SAMSOOR.COM

د پرون، نن او سبا کرښے پکښے مۀ راکاږئ
زما نـه هـره چـه وی، وی بـه زمانـه د کـریم

فال بـه پـرے نیسی پښتو، ناز بـه پـرے کـوی پښتانۀ
ډیـــره اوس هـــم اســـانه نـــۀ ده یارانـــه د کـــریم

اوس پرے هم ژبه شی پوهٔی اوس پرے هم شونډے سوزی
کـــۀ میخانـــه ده د کـــریم کـــۀ پیمانـــه دکـــریم

مـــونږ پښـــتانۀ مـــونږ د پښـــتنو وارثـــان دکـــریم
تـــاریخ خـــوړے نـــۀ شـــی زمـــونږ نـــه بـــیانه دکـــریم

زره زره خاؤره دتن به یے قیصه کړو د ژوند
کـــړو بـــه وړه وړه خبـــره ترانـــه د کـــریم

د کـــریم هـــره افســـانه جـــولئی جـــولئی ګلونـــه
پـه هـر یـو ګـل کښے هـر تصـویر دے جانانـه د کـریم

کۀ سر ترِ پریوت خـو د قام غرور ترِ پرے نۀ وتـو
پـه ملنګئی کښے هـم انـداز ؤ شاهانه د کـریم

لیـــونی کـــړی ئـــے زمـــونږ خوبونـــه هســـے نـــۀ دی
دے د تخلیـــق دیوتـــا پخپلـــه دیوانـــه د کـــریم

زمـونږ پـه ګوتـو کښے سـائله دے قلـم د کـریم
فن مو په نوم د کریم، لیک مو په بانه د کریم

SAMSOOR.COM

# خبردارے

پـه کـور دِ راغلـل سـيلابونه – ډوبيـږے ويښ شـه پښـتونه
سـرته دِ کيـږی سازشـونه – ډوبيـږے ويښ شـه پښـتونه

د زمـانو نـه وروسـتو – سـتا زيږيـدلے وجـود
څوک شته کول نه غواړی- دا جنګ په دے جنګ دے
چـه ستا راتلـونکے نسـل- هـم چرے ساه وانخلـی
سـامراج راوړے داسـے- سـتا تـر کـوځے جنـګ دے

درنـه چـاپيره دی اورونـه- سـوزيږے ويښ شـه پښـتونه

د چـا جـونګړے تـالا- د چـا بـنګلے ډيـرے شـوے
دا د اسـلام جنـګ دے- کـه د پيسـے جنـګ دے
وينـه پښـتون تويـوی- سـود ئـے سـامراج تـه رسـی
وطن ئے خپل تالا کړو- خو جنګ پردے جنګ دے

لـږ پـه خپـل ځـان اوکـه سـوچونه- ورکيـږے ويښ شـه پښـتونه

SAMSOOR.COM

دا چــه کوخــه کوخــه دِ- د ســرو لمبــو ډکــه ده
چــه ګــل دره ګــل دره- دِ د لوګــو ډکــه ده
دا چــه صــحرا صــحرا دِ- نــن د ســلګو ډکــه ده
دا چـــه دِ پُولـــه پُولـــه- د اســـویلو ډکـــه ده

دا پـه تـا څـوک کـوی ظلمونـه- ډوبیـږے ویښ شـه پښـتونه

د خپـل وطـن ګـل درے- پـه لمبـو ځلـه سـیزے
تـاریخ پـه شـاه تـر اوسـه- هیچـا راښـکلے نـۀ دے
د خـپلے خـاورے بچـی- پـه اور کښـے مـۀ ورتـوئے
چـا هیـڅ یـو قـام ټـول عمـر- غـلام سـاتلے نـۀ دے

پـردو لـه مـۀ کـوئے جنګونـه- ډوبیـږے ویښ شـه پښـتونه

څـوک د اولـس دلالان- څـوک د وطـن سـوداګر
د لـوئے سـامراج رضـاکار- د لـوئے سـامراج غلامـان
نـۀ پـه اولـس مـئین دی- نـۀ پـه وطـن مـئین دی
نۀ په پښتون مئین دی- نۀ دی د دین خیرخواهان

پـوره کـوی خپـل هوسـونه- ډوبیـږے ویښ شـه پښـتونه

پښـتونه نـن لـه تـا نـه- تـاریخ یـو سـوال کـوی
ځـان ورکـول غـواړے- کـۀ شـته کـول غـواړے
اجتماعی مرګ او ژوند- نن په خپل لاس کښے لرے
ځـان ورکـول غـواړے- کـۀ شـته کـول غـواړے

نـن دِ پـه لاس کښـے دی وختونـه- ډوبیـږے ویښ شـه پښـتونه

SAMSOOR.COM

وطـن د جنـګ د خـولې نـه- راؤړه د امـن کـور تـه
جنـګ د نفـرت نښـه ده- امـن د مينـې ځـائې دے
د زور پـه وينـو کښـې نـور- خپـل فکـر مـۀ لمبـوه
جنـګ د نفـرت نښـه ده- امـن د مينـې ځـائې دے

مـۀ خـوروه نـور نفرتونـه- ډوبيـږے وينښ شـه پښـتونه

دا خپلـه پاکـه خـاوره- مـو لـږه خـوب تـه پريـږدئې
چـه مـو پـه سـرو ګلونـو- ډک خپـل سـحر اووينـئې
دا پښـتنې ويـنې مـو- بـے ځايـه مـۀ تويـوئې
چـه خپل سپرلي اووينئې- چـه خپل اختر اووينئې

راټـول کـړئې خيـرے ګريوانونـه- ډوبيـږے وينښ شـه پښـتونه

SAMSOOR.COM

○

یو په اوښکو تر ګل په ګودر ترے پاتے شوے دے
شور ئے د بنګړو وړے دے شر ترے پاتے شوے دے
څوک هم چه په ورک زړهٔ پسے دے طرف ته تلے دے
زړهٔ ئے خود راوړے نهٔ دے سر ترے پاتے شوے دے

هر ځل ئے نیمګړے دا یوه خبره پریښے ده
هر ځل نیم کښو د شونډو ور ترے پاتے شوے دے
دا څوک لیونے سپیلنے شوے د چا سترګو ته
ځان ئے سوزولے دے مجمر ترے پاتے شوے دے

ستا د سور سالو په وینو سره چینه او سور چینار
سورے په لمبه منظر ترے پاتے شوے دے
سترګو ته دِ اووایه جانانه چه دارو راوړی
درد ترے پاتے شوے دے پرهر ترے پاتے شوے دے

څوک به په دے پوله لیونی د حسن تلی وی
زوړند هر یو ګل چه په ډنډر ترے پاتے شوے دے
بیا ستا د جمال په جزیره سائل الوتے دے
زړهٔ ترے پاتے شوے دے نظر ترے پاتے شوے دے

SAMSOOR.COM

## یاد

په سرو ګلو کښې پټ وې د ازغو ډکه میدانه
سپرلی درنه چاپیر وو د لمبو ډکه میدانه
دا څۀ درباندې شوی، هیڅوک نۀ درپکښې ښکاری
د ژوند د مستانوؤ، لیونو ډکه میدانه

## حسن و عشق

ما وینې کوی، زۀ ئې په وینو خندوومه
ستا په اشاره ستا په خبره کښې تصویر
حسنه تۀ به نۀ ئې، کۀ نن ئې سبا به نۀ ئې
عشق به دِ ساتی تل په سندره کښې تصویر

## تماشې

ما وې چه څۀ وائې خو چه څۀ ئې نظر وائې
ډکې چه راوړی را له نن سترګو د توبې له
وائې د شمشاد لمبو وطن په سر اخستې دې
تا به تماشه کړی شا به راشه تماشې له

SAMSOOR.COM

# اظهار

مـــا د دړد ســـزا لتانـــه غوښـــتې ده جانانـــه
مـــا کلـــه دوا لتانـــه غوښـــتې جانانـــه
کلـه خـو زمـا نـه د نفـرت اظهـار کـوه کنـه؟
مینـــه اخـــر چـــا لتانـــه غوښـــتې ده جانانـــه

SAMSOOR.COM

○

زۀ چــه مِ د مــور زۀ چــه د پــلار ژبــه پيداکړمــه
حســنه ســتا ســنګار لــه بــه د کــار ژبــه پيداکړمــه
څوک ورته سندره څوک غزل څوک نظم اووائی
درد لــه چــه د مينــے د اظهــار ژبــه پيداکړمــه

نـن کـۀ د خـزان د زيـړو اوچـو پـاڼو شـور يمـه
ګــل تــه بــه ســبا لــه د بهــار ژبــه پيداکړمــه
سـتا د مـخ خالونـه چـه پـه زړۀ لکـه داغونـه وړم
غــواړم چــه تــرے زۀ د لالــه زار ژبــه پيداکړمــه

ستا د خمارى سترګو په ډوب خمار کښے ډوب نشۀ يم
ګـــورم کـــۀ پيغـــام لـــه د خمـــار ژبـــه پيداکړمـــه
اومِ چوى پړق د حد په هورته خاموشى د ګل
زۀ د زړۀ بلبـــل تـــه د چغـــار ژبـــه پيداکړمـــه

روح تــه مِ کلونــه دروغ اووئيــل رنځــور مِ کــۀ
نـــوره ورتـــه څـــۀ د انتظـــار ژبـــه پيداکړمـــه
هســے خــو سـائله پـه خـالى لاسـونو نـه ورځـم
يـا رلـه بـه ورځـم خـو چـه د يـار ژبـه پيداکړمـه

SAMSOOR.COM

## زما د مینے او د وینے د وطن ښکلیه!!

زمـــا د میـــنے او د ویـــنے د وطـــن ښـــکلیه!
تهٔ د ځوانئے د وینے ډک جام ئے په بله اوړے
په تا کښے سرهٔ د ژوند ګډیږی او موجونه وهی
کهٔ هیچا لاس در اوږد هم نهٔ کهٔ په خپله اوړے

د خپـل نظـر د شـرارو پـه طوفـانونو کښـے تـهٔ
منډے وهے د خپـل وجـود وتـی بخرکـی نیسـے
لکـه د پـړکـو دِ پـه سـترګـو کښـے ایـرے پریـوزی
د خیال په ګوتو کښے یخ شوی ترکی پرکی نیسے

تـا خـو د خپلـو لمبـه شـوؤ ګـل درو تماشـے
په هفتو نهٔ په میاشتو هم نهٔ په کلونو اوکړے
تـا خـو د خپلـو قتـل شـوؤ ارمـانونو قیصـے
پـه چغـو مخکښـے د نـړئے د عـالمونو اوکـړے

خو د نړئے عالم چه تا له درکړی څهٔ به درکړی
کهٔ لږ خیرات درکړی دا ستا مسیحائی خو نهٔ ده
په ځنکـدن کښـے د قطـرے نیمے اوبـو پـه اسـره
ژونـد تیـرول ترعمـره پوهـه او لـوئی خـو نـهٔ ده

تهٔ د یو قام ښکلے ئے تهٔ د یو وطن ښکلے ئے
تهٔ د یو قام مالک ئے تهٔ د یو وطن مالک ئے
تـهٔ د پـرون ښـکلے ئـے تـهٔ د مسـتقبل ښـکلے ئـے
کهٔ سوزیدلے هم دے تهٔ د دے ګلشن مالک ئے

SAMSOOR.COM

ستا قام کۀ ډیر هم خوار وزار دے یوژوندون خو لری
یـو تعلـق د ژونـد او ژواک لـری تـړون خـو لـری
څۀ ضابطه او څۀ قیصه د خپل مضمون خـو لری
کـۀ ئـے سـبا پریشانه ډیـر دے یـو پـرون خـو لـری

یو خپل تاریخ خو لری دود لری دستور خو لری
د نـن نظـر او د سـبا ورځـے شـعور خـو لـری
د آنـا دار خـو لـری چغـے لـه منصـور خـو لـری
د پټکـی ول، د شملے تاؤ لری غرور خـو لـری

اوښکے دِ پاکے کـه پـه ویـر او پـه ژړا نـۀ کیـږی
دا ټــوټے شــوی ائیــنے راټولــول غـــواړی
زمــونږ زخمونـه د پـردو پـه مسـیحا نـۀ کیـږی
دا پرهرونــه بــه پــه خپـل اور رغــول غــواړی

ښکلیه! څـو بـه مـو د خـور او مـور د سر پړونـی
راتښتوی، راشـو کـوی، پـردئے کـاواکے سـیلئے
ښــکلیه څــو بــه پــه نــازکو رخســارونو لګــی
لکـه سـپیړے د میـرے مـور او بـے بـاکے سـیلئے

مـنم چـه تـا پـه سـین د وینـو کښـے وطـن اوګټـۀ
نـن هـم د وینـو سـین لـرے ولـے جالـه نـۀ لـرے
د جنګ فاتح ئے خو د فتحے کورته ستون نۀ شـوے
ځـکه چـه خپـل کـاروان او خپلـه قافلـه نـۀ لـرے

چه قافله نهٔ لرے لاس د جنګ نیولے نهٔ شے
د خپل وطن د ناوے شونډے ښکلولے نهٔ شے
د مور او خور په سر پړونے خورولے نهٔ شے
خپل انغرے د خپل کنډر کور تودولے نهٔ شے

زما د مینے او د وینے د وطن ښکلیه!
راشه په نوے لار د نوی ژوند اغاز اوکه
ټولو ته اووایه چه خپله قافله پیداکړی
د تدبر او دانش خونو ته اواز اوکه

ټوپک د ژوند قاتل او وینے سوداګر ته پریدهٔ
ته د دلیل او د ګویانه ژبے لار واخله
د خپل وطن د دړد د څړیکو کیفیت تصویر کهٔ
دردله د داغ د چاؤدو شونډو نه خمار واخله

د خپل تاریخ د پانړے پانړے ائینه راواخله
چه پکښے ټول د خپل وطن لیونی ځان اووینی
چرته د یو څلی نه خیرے لوپټه راواخله
په داسے خیال چه ئے د ټول وطن ځوانان اووینی

ښکلیه! مینے له د نوی لوظ لاس ورکه
د هر الفت په مړاوؤ سترګو کښے ارمان تازه که
هر لیونے د خپل غرور په مئیو اولمبوه
ننګ له، غیرت له، ضمیرونو له ایمان تازه که

SAMSOOR.COM

په دے قام هیچا کوډے کړی، نهٔ تعویذ کړے دے
خو قاتلان شته او د ژوند مبلغان نشته
دا زړونه، هغه دشتے نهٔ دی، چه ازغی ټوکوی
خو قصابان شته، د شپونکیو وارثان نشته

زما د مینے او د وینے د وطن ښکلیه!
ریښے ریښے پټکی راټول که ترے جرګه جوړه که
د دے جرګے نه کاروان جوړ که قافله جوړه که
تار تار راټول که ترے شال جوړ که لوپټه جوړه که

کهٔ په ګل ګل کښے د شبنمو شوګیرونه غواړے
کهٔ د شبنم په شوګیرونو کښے خوبونه غواړے
کهٔ خپل وطن له د ګلونو سحرونه غواړے
کهٔ خپل سحر له د رنګونو بهارونه غواړے

نو دا یوه نغمه، په دے نوی رباب واوره
شابه ایله مهٔ کوه پانړه د کتاب واوره
هر خیال د داسے ګناهونو په ثواب واوره
خپله دنیا په زمانه، د انقلاب واوره

په زړهٔ کښے مهٔ غریږه، شونډے په اظهار پوهه که
سترګے را اوسپړه او ژبه په اقرار پوهه که
د ذاته اوځه، ځان په لار، پوهه په دار پوهه که
د ځان سره ښاغلی ټول د کار، په کار پوهه که

SAMSOOR.COM

زړو لفظونـو لـه، د نـوي ژونـد معـنې پيـدا کـه
نــوؤ معنــو لــه، لــړزوونکې تــرانې پيــدا کــه
پـه ترانـو د دړد، د سـرو اوښـکو چينـې پيـدا کـه
پـه زمانـه کښې ځـان لـه خـپلې زمـانې پيـدا کـه

ځــنې کارونــه د خوبونــو پــه ليــدلو نــۀ شــي
د دې وطــن پــه قــاتلانو وطــن نــۀ جــوړيږي
دي در پـه سـر، د نـوي نسـل مسـتقبل جـوړول
ګورې په غلـو او په ډاکوانـو وطن نۀ جوړيږي

قيصــه د نــوي ســره بيــا شــروع کــول غــواړي
نـــوي رازونـــه د دنيـــا معلومـــول غـــواړي
د نـوي خيـال سـره پـه نـوې لاره تلـل غـواړي
مـــزل د نـــوؤ منزلونـــو بـــه ټاکـــل غـــواړي

د زړۀ دردونــه بــه همــه شــريکول غــواړي
پـه ترقيـدونکو، ليونـو، دشـتو بـه تلـل غـواړي
د ذات د کـوره بـه پـه هـر صـورت وتـل غـواړي
ځان او جهان به خپل اولس ته ورسپارل غواړي

نۀ مو په لاس کښې نور وخت شته نۀ بله لار ښکليه
او کـۀ تلـوار، بـس کـه د نـورو انتظـار ښـکليه!

سترګے چه رنګ واړوی ګويانه تصويرونه شي
اوښکے چه په سر د بڼو اوخاندی لفظونه شي
مات کړی غرونه غرونه زړونه لاړے پکښے جوړے کړی
دړد چه څريکے څريکے په رباب د زړهٔ تارونه شي

سترګے چه د سترګو د مسکا په معنا پوهه شي
ژوبل شي زړګي د تندرونو موسمونه شي
تا که منګے سرته کهٔ او ما کهٔ ټپه پورته کړه
بيا به په چينو او چنارونو بهارونه شي

څوک خو ځنګيدهٔ هم غواړی ټال غواړی ټالئے غواړی
څوک خو ځنګولے هم شي زلفے چه ټالونه شي
څهٔ د هر يو روح په انګړ خور د مينے سورے دے
څهٔ ورے قيصے د مينے لوئے لوئے کتابونه شي

يو وی اسويلے خو دا همه دنيا پرے اوسوزی
اوښکه که يوه هم په مخ راشي نو رودونه شي
زهٔ او تهٔ کهٔ نهٔ يو جانه دا زمکه ګل نهٔ سپړی
دا خو زهٔ او تهٔ يو چرته ګل چرته رنګونه شي

نوے سپوږمئے ستا د سالو پيڅکے ځلولے دے
ګورو کهٔ زمونږ هم په کوڅو کښے اخترونه شي
خوند کوی په غيږو د خوبانو کښے خوبونه خو
يه سايله کله په اورونو کښے خوبونه شي

SAMSOOR.COM

## سپیلنے

تټـــا کوؤمـــه در لـــوګے شـــم ســـپیلنے دِ کړمـــه
د ســـوی لـــوی انتظـــار د اور لـــوګے دِ کړمـــه
جانانـه زهٔ هسے د شـک خامـار خـوړلے نـهٔ ؤوم
اوس راتـه رو رو یقیـن کیـږی چـه پـردے دِ کړمه

## جانانه یاره

پـــه مـــا د خپلـــه ځانـــه ګرانـــه یـــاره
شـــکمنه یـــاره بـــد ګمانـــه یـــاره
د زړهٔ دنیـــا دِ رالـــه څـــهٔ ورانـــه کـــړه
پـــه مـــا دِ کړلـــه دنیـــا ورانـــه یـــاره
بیابـــانے دِ کـــړم مجنـــون دِ کړمـــه
جانـــان دِ نـــهٔ کړمـــه جانانـــه یـــاره

SAMSOOR.COM

○

کـۀ چرتـه ساه د محبـت پـه لیونـو کښې راشـي
جانـان دِ بیـا د تنـدرونو پـه جـامو کښې راشـي

درتـه پـه څـۀ بانـه د زړۀ د وینـو دارے اوکـړم
چـه دِ سـرخي پـه مړغیجنـو اننګـو کښې راشـي

چیـنے لـه راشـه پـه چنـار د سـالو سـورے اوکـه
چه لږ شان سرۀ خو د اسمان په کنارو کښې راشي

د شمعې هم په ځان زړۀ سوزي چه تنها بلیږی
پتنګ خبر کړئے چه محفل ته په لمبو کښې راشي

شـپه ده ناخاپـه مِ پـه سـر لکـه شـغله والوځـه
چه د ژوندون شور مِ د زړۀ په درزیدو کښې راشي

سـپرلے دِ ډکـه غیـږ د ګلـو د زخمونـو راوړی
چه پیغلے سرۀ ګلونه ایښی په کمڅو کښې راشي

سائل د دے شپے سره جنګ په دے ارمان کړے دے
چـه مِ سحر ستا د جمـال پـه پلوشـو کښې راشـي

○

پیښه په دے ورانو کوڅو بیا اوکه یو ځل ملنګه
یه زما نادان ملنګه یه زما پاګل ملنګه

ستا نه ستا لوظونه ولے هیر شو په تا څهٔ اوشو
تا خو به ریګونه په سر دلته بادول ملنګه

نهٔ درنه سالو غواړمه نهٔ امیل د سرو ګلو
نهٔ درنه بنګړی غواړمه نهٔ درنه کاجل ملنګه

ډیرے بے ارزئے د ژوندون ډیرتریخ کهٔ بے وسه ژوند
بس دے زولنئے ماتے کهٔ راشه په څهٔ چل ملنګه

تار تار ګریوانونه خو هم غواړی د هنر نظر
زړهٔ مِ که راټول ملنګه خور مِ که کاکل ملنګه

نهٔ په زړه اختیار لرمه نهٔ په ځان اتبار لرم
څنګ دِ کړم پردے ملنګه، څنګ دِ کړم خپل ملنګه

بیا شبنم شه په سائله! هغسے مِ بیا ګلاب که
تا چه به ژړل ملنګه ما چه به خندل ملنګه

SAMSOOR.COM

○

ستا د تورو تورو بلا سترګو بلا واخلمه
ستا په تماشه کښې رانه هیر وؤ چه ساه واخلمه

زۀ به جنت ستا د یو دیدن دپاره پریدمه
زۀ به هغه نۀ یم چه دا واخلم کۀ دا واخلمه

دلته چه راغلے یمه ستا سودا اخستے یم
نوره به په دے بازار کښې کومه سودا واخلمه

خدائے دِ راته تا په تمامی حورو کښې اودروی
یه په لونګین مئینے زۀ به ترے تا واخلمه

بس یوه لحظه نیمه معطل شه د دیوال په شا
زړۀ له چه جانانه ستا د زړۀ نه درزا واخلمه

ستا په ګل ګل شونډو د لمبه لمبه ښیرو نه پس
ولے د پیکه پیکه خیالونو دعا واخلمه

ښکلے به پرهرونه د سائل په زړګی نوی کړی
ښکلے به دِ د سترګو د ښېرو نه صلا واخلمه

SAMSOOR.COM

○

نصیب مِ ګل یم غوړولے په صحرا تږے یم
ستا د قطره قطره شبنم شبنم خندا تږے یم

سپوږمئی درځم جام جام د ستورو راله ډک اوساته
زهٔ د جمال زهٔ د ښکلا زهٔ د رنړا تږے یم

کهٔ سمندر نهٔ وی راواړئے سیندونه په ما
زهٔ د پیړو سوے یم، زهٔ د پښتونخوا تږے یم

دغه دے اوس مِ اوښکے ستا اوښکے په لپو لپو
دغه دے بیا مِ شونډو اور واخستو بیا تږے یم

بلا بلا ثواب هم ټکے قدرے نهٔ کړم سیراب
زهٔ ذات پرست نهٔ یم د مینے د ګناه تږے یم

زما د تږی روح نه اخلی سرچینے روحونه
زهٔ د حسین زړهٔ یمه، زهٔ د کربلا تږے یم

اوشوے مودے ستا د نظر په سمندر پروت یمه
ستا په کتو چرے موړ نهٔ شومه پیدا تږے یم

شونډے دی تراړے تراړے هسے تلی نه د سائل
ما په رشتیا ده مینه کړے زهٔ رشتیا تږے یم

SAMSOOR.COM

○

دا څۀ حالات وی چه د روح نه مِ وجدان یوسی
د تصــــور نـــــه مِ خوبونــــه د امکـــان یوســـی

دا څۀ سایه ده چه په سترګو مِ دخیال پرته ده
لکـه کارغـه شـی را غوټـه زمـا نـه ځـان یوسـی

کـۀ څـوک ژونـدی وی نـو زما غېږ ورتـه اورسوئې
د هغې څلی مات " کـودی" لـه دِ ریحان یوسی

پـــه وچیـــدو دی د دامـــانې د ګلونـــو شـــونډې
کۀ څوک ورځې نـو چه په سترګو کښې باران یوسی

زۀ د خـــزان د پـــاڼږې پـــاڼږې ســـره اورژیـــدم
خدایه سیلئې کړې چه مِ کورته د جانان یوسی

د دې جهان په بازار زړۀ سائل پرون خرڅ کړې
نـن دِ پـه هغې خیـال د هغې زړۀ ارمـان یوسـی

SAMSOOR.COM

# د

# پروفیسر انعام په نوم

SAMSOOR.COM

زما "انعامه" یه زما د سترګو ورک نظره
ما لا "امان" هیر کړے نهٔ وؤ چه تا بله اوکړه
مونږ خو به تا او ستا ادا ته غړولے سترګے
داسے دِ څنګه بے تپوسه رضا خپله اوکړه
چه د وطن قام او اولس په سر خبره به شوه
مونږه به ستا هره جذبه یو راهنما ګڼړله
داسے به ستا په شونډو هر ټکی معنے لرلے
چه مونږ به هم ترے د انکار جرات ګناه ګڼړله
خو تا زمونږ نه ځان په نیمه لار کښے ورک ولے کۀ
سړیه داسے دِ سنګین زړګے نازک ولے کۀ

انعامه هيڅ دِ په دے نوے فلسفه پوئے نۀ شوم
چه داسے څنګ په نيمه لار کښے مرور کښيناستے
تا خو زۀ خپله تل د خپل فکر په نمر ساتلم
تۀ په پيوند څنګه د سيورى او د نمر کښيناستے
زما د ژوند جنونه يه زما د ژوند جانانه
ما نه چه دا هر څۀ تۀ غواړے ما له څۀ راکوے
زۀ به هم دلته د خاطر د خولے خبره اوکړم
زما اشنا کۀ راکوے ما له به زړۀ راکوے
او کۀ زړۀ نۀ راکوے لاس په لاس کښے مۀ راکوه
داسے ازغى خو په دے خوږ احساس کښے مۀ راکوه
زۀ به د چا ليونى غېږ ته لارے اوڅارمه
چه تاسو يويو خپله کډه اوتړله لاړئے
لا خو زمونږ د وطن ګټه ګټه لوټه لوټه
په خاورو خړے دى سپرلى غواړى ګلونه غواړى
لا خو زمونږه دشتے پولے پټى غرونه غاړے
سرۀ کميسونه د مئينو اوازونه غواړى
تۀ د کرلو، شووۀ "ګلو" نه په کومه لاړے
په کومه لار لاړے په غرۀ او کۀ په سمه لاړے
انعامه لېږه دِ د خپل فکر رڼا راوړه
چه دے تيرو ته ئے بريښنا کړم پکښے لار جوړه کړم
چه لږ په ورکوسترګو ورک نظر يقين اوکړمه
چه تماشه لکه منصور په سر د دار جوړه کړم

○

ځـئے چــه مـاتے مـاتے ائیـنے، راټــولے کــړو
لوبــو لــه د ســرو اوښــکو دانــے، راټــولے کــړو

ځـئے چـه ئے د زړونـو په تختـو، بیـا اولیکـو
بیــا خـــپلے غمـــژنے زمـــانے، راټـــولے کـــړو

کــر بــه پکښــے اوکــړو د جانــان، جانـان نظـر
بیرتــه بــه پرهــر پرهــر ســینے، راټــولے کــړو

بیــا چــه ئــے د مــړو زړونــو پټــو تــه، راواړووْ
بیــا د دړد خــورے ورے چینــے، راټــولے کــړو

ځئے چه د خپل کلی د بټ ورانه، خوا اونیسو
خاورے په سر باد کړو او نینے، راټـولے کـړو

راشـئے چـه ددے بربنـډ موسم په، کفر کښـے
خــپلے قیصــے خــپلے افســانے، راټــولے کــړو

راشئے چه اباد ے میخانے کړو، د ژوند په نوم
بیــا هغــه خــاورینے پیمــانے، راټــولے کــړو

راشـــئے د تـــالا والا وطـــن، د ننـــګ بچـــو
خـــپلے اســـتانے تـــه اســـتانے، راټـــولے کـــړو

راشئے چه لړ واؤرو د سائل، غمژن اواز
راشئے چه سندرو له معنے، راټـولے کـړو

SAMSOOR.COM

○

په خپل نظر کښې به د ستا راکړې ګل ګرځوۀم
د یاد ازغې به دِ د زړۀ په سر کښې تل ګرځوۀم

زما په زیړ الوتی رنګ کښې به څۀ سرۀ پیداشی
درانۀ په زړۀ ستا د خوارۀ وارۀ وربل ګرځوۀم

د زړۀ تنړاکې پکښې کله ځایولې شمه
تصویر په سترګوکښې دخپل ستړی منزل ګرځوۀم

چه خپلو شونډو له دخپلو اوښکو رنګ ورکوی
د وطن دا ښکلی په زړۀ کښې د غزل ګرځوۀم

لکه ماشوم هر ژړیدلې دړدیدلې ارمان
د تبستیدلی خوب دپاره په څنګل ګرځوۀم

کۀ چرته شوخ ترے واخلی رنګ ترے واخلی اور ترے واخلی
د زړۀ پرهر چرته د سرو ګلو په تل ګرځوۀم

تئیرے منم چه اوس په زړۀ وارخطائی راولی
خو د زړۀ داغ به جانانه پکښې بل ګرځوۀم

نن راته ژوبل فکر وے راځه سائله
نن دِ د ورک جانان په وران ویجاړ بورجل ګرځوۀم

SAMSOOR.COM

# سندره

یه ملنګه یاره په دیوال، کشمالی کرم
زهٔ خو ستا دپاره په دیوال، کشمالی کرم
چاته سوال جواب اوکړم، څوک به دِ خبر کړی نن
چرته ئے دلداره په دیوال، کشمالی کرم
یه زما د سترګو توره یه زما د زړهٔ درزا
راشه په دے لاره په دیوال، کشمالی کرم
څو چه تهٔ رانهٔ شے، لیونے بهار به رانهٔ شی
یه زما بهاره، په دیوال ،کشمالی کرم
هر طرفته ګورم په تا څهٔ اوشو چه رانهٔ لے
مرم د انتظاره په دیوال ،کشمالی کرم
خلکوله خپل خپل مئین جانان کشمالی راوړی
زهٔ په نصیب خواره په دیوال، کشمالی کرم
وایمه د ځان سره رو رو د خپل سائل غزل
اوژاړم د قاره په دیوال، کشمالی کرم

SAMSOOR.COM

○

د باغه اوځه خو د دړد او د ارمان د کوره
بلبله مهٔ اوځه د مینے د جانان د کوره

اوس هم راځی یوه غمژنه شان نغمه د رباب
د باز درے د "رود" په لور د ادم خان دکوره

مونږ لکه اوښکے یو په خپل باران کښے لوبے کوؤ
ویشو په هر لور پیغامونه د ګریوان د کوره

ځی ورله څوک سرمایه دار کرایه دار لټوی
هر څوک د روح نادان اوباسی د وجدان د کوره

تنهایئے چپ شه عشقه وریت مِ کهٔ خو غږ مهٔ کوه
زهٔ به د ژوند ښار جوړوؤم د بیابان د کوره

خدایه دا اور اور موسم، خوب خوب چاپیرچل د پښتون
دی تیریدل څهٔ د ناشونی امتحان د کوره

کهٔ د سرونو لوبه غواړی کهٔ نشه د شعور
خوګل اندامه دی راؤړل د ترابان د کوره

کهٔ دار ته رسی او کهٔ غیږے د دلدار ته رسی
سائل وتے نهٔ شی د مینے د ایمان د کوره

SAMSOOR.COM

○

د پسرلي په ګوتو جوړ زما ګلفام جانان
څځ نشه راکړه د سحر د ګل په جام جانان

زما د مينې ملنګئ ته باچائي لوګې کړئې
لکه د شمع راته بل وی هر ماښام جانان

هم دغې دار له خپله بند په بند تړلې راغلم
په جبين چا ته ږدی د تورو زلفو دام جانان

څمه لمبو ته دانګم ګل ورله راوړم د سپرلی
داسې راکړې دې په سترګو کښې پيغام جانان

ما له د بل ياد او د نورې ثناء چل نۀ راتۀ
ما زۆت کړې ساه په ساه او ګام په ګام جانان

دا ښه اونۀ شو چه خوئی بوئی د معشوقې شو بدل
سائله ستا په نوم ليکلې دې سلام جانان

SAMSOOR.COM

# د محمد(ص) نظره

چه دِ وسعت دے د همه فاصلو ضد نظره
ستا نه لوګے ستا نه قربان د محمد(ص) نظره
چه هر خوا اورسیدے نۀ لرے هیڅ حد نظره
ستا نه لوګے ستا نه قربان د محمد(ص) نظره

زۀ د همه ژوند مایوسئے د زړۀ همه دردونه
راوړمه ستا د مهربان نظر ګلونه یوسم
ستا په سخی دربار خالی لاسونه پورته کړمه
په خپله لپه کښے دا دواړه جهانونه یوسم

زۀ ستا د خیال په سیوری بچ یم د هر بد نظره
ستا نه لوګے ستا نه قربان د محمد(ص) نظره
تۀ د کرم د لا زواله ګورے ونے سورے
زۀ د خطا د لارو ستړے دلته ساه اخلمه

زۀ چه د خپل زړګی نه وینځم د ګناه داغونه
ستا د جمال د سحرونو نه رڼا اخلم
اخر دِ پویه په معنے کړم د مقصد نظره
ستا نه لوګے ستا نه قربان د محمد(ص) نظره

زۀ چه د ژوند په تنسته بوده کښے اونخلمه
ځان ته حیران شمه چه چا ته سترګے واړومه
یوه شیبه د وارخطا زړۀ تجزیه اوکړمه
چه سترګے پورته کړمه تا ته سترګے واړومه

زما ارزو دِ په هیڅ حال کښے نۀ کړه رد نظره
ستا نه لوګے ستا نه قربان د محمد(ص) نظره

SAMSOOR.COM

# منزل

دا زهٔ د کوم ارمان په دشت کښې لیونے روان وؤم
ستا د نظر د اور لوګے وؤ راپسے روان وؤم

څهٔ وه سایه ستا د وربل د تصور جانانه
په سر مِ الوتے لمبه لمبه غرمے روان وؤم

SAMSOOR.COM

د ژوند وفا او مینے ترجمانه ده سندره
ماشومه ده نازکه ده نادانه ده سندره

سندره وژنئے مهٔ سندره نهٔ مری قاتلانو
پیدا د دواړو سترګو د جانانه ده سندره

لیکلے خدائے د مینے په قسمت او په فطرت کښے
رالوتے د وږمے د ګلستانه ده سندره

کوتره ده الوتے ده په سپینه لوپټه کښے
د امن د پیغام سره روانه ده سندره

د مینے سرچینه ده د خوبونو په وطن کښے
مونږ داسے جوړه کړے د ارمانه ده سندره

هر کال پرے هر کلے وایو غمژنو پسرلو ته
راوړے مو د ژوند د بیابانه ده سندره

هر چا چه ده په کومه لار زندان ته رسولے
راوتے په بل لاره د زندانه ده سندره

چه چرته غړیدلے ده ژوندون ئے زیږولے
خبر نهٔ د ثواب نهٔ د ګناه نه ده سندره

دا خلک خدائے زده ولے د سندرے دشمنان دی
سائله چه په هر چا مهربانه ده سندره

SAMSOOR.COM

○

دی پـرے خـوارهٔ سـتا د نظـر د پلوشـو رنګونـه
دی د خوبونو شان خوارهٔ د دے کوځو رنګونه

د سـالو والـو جونـو سـترګے پـه لمبـو تـوروؤم
وړمــه خــالونو لــه د نــوؤ تماشــو رنګونــه

ستا په رخسار کښے بلوی د جمال نوے ډیوے
زمــا پــه مــخ د محبــت د حــادثو رنګونــه

داسے سپرلی دی چه د زړونو د بیدیا نه نهٔ ځی
د پښــتنو پیغلــو پــه ســر د لوپټــو رنګونــه

شـومان دی نـه ظـاهروی پـه هـر چـا خپلے معنے
خانـدی پـه سـترګو کښے د ژونـد د لیونـو رنګونـه

مــونږ د ژونــدون لیــونی تاســو د بــازار لیــونی
جــدا دی ستاســو نــه زمــونږه د جــذبو رنګونــه

د سائل خلی ته د نوی سپرلی زیرے یوسئے
سرهٔ شو په سترګو کښے د ژوند د لیونو رنګونه

SAMSOOR.COM

## د پانسي ګاټ دننه د يو دردناک خط په جواب کښې

زمـا شـاعره ليونيـه ژونـد پرسـت شـاعره
تـا بـه اغوسـتې وي جـامې د زولنـو منمـه
په زنځيرونو کښې به خوب وينې د خپلو کوڅو
جـذبې بـه ستا هـم وي د عشق د ليونـو منمـه

پوهيږم درد به دِ په زړهٔ کښې کهٔ څهٔ څانګه کوي
تهٔ به ترے څوکه غوځوے چه چرته لويه نهٔ شي
پـوهيږم ور بـه د زړهٔ پـورے د چـا يـاد تـه سـاتے
چـه ستا پـه غوځـو ارمانونو چرتـه پوهـه نـهٔ شـي

SAMSOOR.COM

تهٔ چه شاعر ئے تهٔ به هم لکه زما په شانے
د لفظ په ورانه جاړه خونه کښے معنے ګورے
د پانسی ګاټ په تکه توره وارخطا کوټه کښے
به خپل پښتون سپیره تندی له پلوشے ګورے

خو دلته هر قانون رشتیا وی او رشتیا وی قانون
تا به "رشتیا له" په ریشتینو زولنو کښے بیائی
جرم خو جرم وی کهٔ تور وی او کهٔ سپین جرم وی
تا به خپل حد له په رنګینو افسانو کښے بیائی

خو چه په کوم چربانګ د بِیائی نو زما شاعره
غواړم چه شپے له سپوږمئی مخ په پلوشو اووینځے
د هر یو ګل د جام مجمر کښے دِ شبنم لوګے کړی
د ټول اسمان مخ دِ په اوښکو پښتنو اووینځے

ځکه چه عام او د شاعر مرګ کښے خو فرق په کار دے
هغه یواځے مری د دهٔ سره سندره هم مری
هغه یو مړ شی دے په یو سزا کښے دوه ځله مری
کهٔ څوک په هیڅ نهٔ مری نو دے خو په خبره هم مری

خودا خوزهٔ وایم زما اوستا په ګران وطن کښے
زما شاعره د سندرے حیثیت د څهٔ دے
سندره څوک ده او د څهٔ نه ده پیدا سندره
د یو حسرت او ویر نه اخوا ئے قیمت د څهٔ دے

SAMSOOR.COM

○

په زړهٔ داغ داغ ریدے په وینو کښے ګلګون ولاړ یم
په خیال کښے ډوب ستا د جبین د سباوون ولاړ یم

بیلتون کۀ څو زما په یو کور کښے دیوال وهلے
زۀ هم دیوال هسے په کور کښے د بیلتون ولاړ یم

ستا تصور بت کړم د ځانه خبر شوے نۀ یم
کلونه تیر شو ستا د غم په میړتون ولاړ یم

په خپلو وینو دِ تصویر له ثنړه سترګه کوؤم
فکر کوؤمه ستا د وریځو په مضمون ولاړ یم

حالاتو څۀ د عشق دنیا په بله واړوله
د لیلی حسن یم په در کښے د مجنون ولاړ یم

زۀ د خیبر په سر ولاړ یمه وطن ته ګورم
معنا مفهوم یم او کۀ سوال یم د ژوندون ولاړ یم

زۀ په دے خاوره کښے بلا ژورے جرړے لرم
نۀ په ښوائدانړی یم ولاړ نۀ په صابون ولاړ یم

دا چه "مرم" ځان لیدو له نوے ائینے تراشمه
ځان له سنګار کوؤم په نوی ځیګر خون ولاړ یم

دا د سبا دپاره پانړه د تاریخ اړووم
ولاړ خو یمه کۀ زیلے کۀ زبون ولاړ یم

مغل ما وژنی خو بیا هم هر یو مغل ته د وخت
لکه سایه په هر ګوټ پیر کښے د پښتون ولاړ یم

SAMSOOR.COM

○

ستا تبسم د ګل د غېږې پسرلے کړمه نن
لکه شبنم دِ په سحر سحر لوګے کړمه نن

تماشے تل راټولوی خوارهٔ وارهٔ فکرونه
زهٔ دِ زرے زرے د سترګو تماشے کړمه نن

شغلے به څنګ ستا د خالونو لاله زار نهٔ کوی
د وینو جام ووُم تا پړے لپه لپه توے کړمه نن

ما ډکے ډکے وے ساتلے د عمرونو سترګے
تا د باران هسے شیبے شیبے رابنکے کړمه نن

ما هم څهٔ وے تا هم څهٔ وے خودواړو هیڅ اونهٔ وے
د اننګو خولو دِ ټول خولے خولے کړمه نن

ډیر ډیر دِ اوکاتهٔ زما په مخ کښے خپل مخ ته نن
ځار دِ د مخه چه دِ مخ د ائینے کړمه نن

د سخاوت نه دِ لوګے د جانان رونړ جبینه
شغله دِ پورته د رنړا د منارے کړمه نن

زهٔ خو سائل ووُمه سائل څهٔ بے معنے ټکے وی
خوچه تا شونډو ته کړم ډک دِ له معنے کړمه نن

SAMSOOR.COM

○

چه را په زړهٔ شي د زمان او د مکانه اوځم
همه جنون شمه د ځان او د جهانه اوځم

داسې اواز مِ کهٔ د زړهٔ پټه بې رحمه دړده
پورې راپورې چه د زمکې او اسمانه اوځم

جانانه داسې مِ پخپلو زلفو کلک اوتړه
چه باقي ژوند د رهايئ د هر امکانه اوځم

د دې بازار هرې سودا سودائي کړې يمه
ځان ته به څهٔ بانه کووٴم کهٔ د وجدانه اوځم

اوس د دې خپل دشمن رقيب زړهٔ سره څهٔ اوکړمه
چه هم ددهٔ د دړد ازار شوم د جانانه اوځم

زهٔ د فطرت موسکا پخپله تصوير کړې يمه
د دې تصوير د مسکيتوب نه به په ګرانه اوځم

خدايه د کوم زخمي بلبل چغار دِ کړمه
چه لکه سوې ساز د سوی ګلستانه اوځم

هر خوا چه ځم په لاس کښې ژوبل زړهٔ ګرځوم
خاندم سائل يم وينې وينې د ارمانه اوځم

SAMSOOR.COM

○

خیال دِ زما د خیاله غیبرہ کړه چاپیره مینے
څۀ د قیامت حادثه شوه په دواړو تیره مینے

لپه ما پورته کړه او راغله دعا ستا په شونډو
خدائے به کړی مونږ ته د الفت زمانه ډیره مینے

راشه چه غوښتے ئے هنر ستا د فنکارو سترګو
د زړۀ تږوتږے دِ راته پریښی بے کوشیره مینے

ماته دا ستا نه د ورک زړۀ صنم خانے ته بوتلے
تا زۀ خبر کړم د الفت د زور او زیره مینے

اوس د تاؤ کړو بنړو غشی تر هغے راوله
چه پرهرونه مِ په زړۀ اوځی د شمیره مینے

د ژوند په کوم ګوټ پیرئے مخ کړو زۀ او تۀ یو بل ته
بنده ئے نۀ دے خبر کړے د خپل خیره مینے

حق به لرے چه ورته خپله وفا اونۀ بښے
په هیره هم کۀ د سائل نه شولے هیره مینے

SAMSOOR.COM

○

ریژی نه د خپل کانړی ارمانه سره څۀ اوکړم
وژنـی مِ هـم نـه د خپل جانانه سره څۀ اوکړم

رنګ رنړا ادا شوخی مستی ځوانی او تود سپرلے
ګل ته شو راښول وائی د ځانه سره څۀ اوکړم

زړۀ مِ درکـۀ سـر مِ درلـه څـو ځلـه راوړے دے
زۀ سـتا د یقیـن سـتا د ګمانـه سـره څـۀ اوکـړم

ځمه ستا په غیرږ پسے او خاورے بادووۀم په سر
نـور د دے زړۀ چاودی بیابانه سره څۀ اوکړم

زۀ بـه د الفـت پښـتو د سـر پـه بـدل اوپـالم
سـتا د لـوظ مـاتی د امکانـه سـره څـۀ اوکـړم

تـا د زړۀ پـه ګـل ګـل پـڼـی کـر اوکـۀ د سـرو زرو
زۀ د خپلـو اوښـکو د بارانـه سـره څـۀ اوکـړم

شپه چه شوه پخه نو دۀ کړو بس د محبت رباب
زۀ د خپـل نصیب د ادم خانـه سره څۀ اوکـړم

زۀ یوسف پـه یـو بازار کښے یـو خریدار نـۀ لـرم
زۀ ددے حـالاتو د ایمانـه سـره څـۀ اوکـړم

بیـا ئـی مِ سـائله پـه خونخـوارو لارو شـا مـودام
زۀ د خـپلے میـنے د وجدانـه سـره څـۀ اوکـړم

SAMSOOR.COM

## سندره

کـۀ لیـونے مِ نـۀ کـړے زۀ بـه لیـونئے نـۀ یمـه

ځۀ کنه ګـورو به جانانه

کۀ ادم خان مِ نۀ کړے بیا به درخانئے نۀ یمه

ځۀ کنه ګـورو به جانانه

چــه دِ پــه تــورو غرونــو ســر نــۀ کړمــه
لالیــه بیــا بــه ســترګے تــورے نــۀ کــړم
چـــه دا د میـــنے ســـزا در نـــۀ کړمـــه
بیا به په شونډو سرخی پورے نۀ کړم
چه موسے خان دِ نۀ کړم زۀ به ګل مکئے نۀ یمه

ځه کنه ګـورو به جانانه

SAMSOOR.COM

چه په خوږو خوبونو پسے
مِ خو په چغو ژړولے نهٔ ئے
چه مِ د خپل باغ په ګلونو پسے
تر عمره عمره کړولے نهٔ ئے
زهٔ به د خپل وطن د غرونو غرڅنئے نهٔ یمه

څهٔ کنه ګورو به جانانه

چه مِ د سترګو نه الهام وانهٔ خلے
زهٔ به دِ هم د غاړے هار نهٔ کړمه
په دوه لاسی چه مِ سلام وانهٔ خلی
تا به تاجدار تا به دلدار نهٔ کړمه
چه دِ رنځور نهٔ کړمه زهٔ به شین خالئے نهٔ یمه

څه کنه ګورو به جانانه

چه مِ سندره نهٔ کړے خو سائله
یاد ئے لره رانه به خوب اونهٔ کړے
چه مِ تر خو نهٔ کړے درخو سائله
رانه به ژوند د زلمیتوب اونهٔ کړے
چه په ژړا دِ نهٔ کړم زهٔ به ملالئے نهٔ یمه

څه کنه ګورو به جانانه

SAMSOOR.COM

○

تصویر هغه وی چه تصویر نهٔ وی جانان ښکاری
چه په خندا کښې ئې را ټول جهان ښکاری

ستوری به پیژنی خو ستا خالونه نهٔ پیژنی
چا ته چه ستا خالونه ستوری د اسمان ښکاری

ما د خپل زړهٔ درد له راوړی ستا د زړهٔ دردونه
ځکه مِ هر ارمان هم ستا د زړهٔ ارمان ښکاری

اوس هم ډیر لرے خو د ورک جانان اواز اورم
اوس هم دا دشته راته سپېردے ګلستان ښکاری

په شاه ئې مهٔ اړوه مهٔ ئې ورانوه محبوبې
ما ته د دے زلفو په خوئی بوئی کښې طوفان ښکاری

زما یوے ژړا نامے ډیرے معنے ډیرے کړے
خوک به ئې اوښکې ګڼړی چا ته به باران ښکاری

د دنیا یو نظام د یو نظام په لاس کښې نهٔ دے
سائله هر هنر په خپل احساس تاوان ښکاری

○

سر رانه پاتے شو په لار منزل په سر لرمه
هلته به ځم چرته چه رنګ د خپل سحر لرمه

غیر ته به ما د خپل جانان منزل رسوی
زهٔ په خپل عشق داسے یقین داسے باور لرمه

ما به د ځانه سره وړی د خپلو څړیکو په لار
داسے بیدار دړد چه په شونډو د پرهر لرمه

چه په یوه ادا ئے ټوله دنیا نهٔ اخلمه
زهٔ هم په دے دنیا کښے داسے یو دلبر لرمه

راځه چه ورشو د تئیرو په زړهٔ کښے لارے اوکړو
تهٔ په جبین سپوږمئے او زهٔ په تندی نمر لرمه

زهٔ سائل تلے شم د صحرا په تندغرو لارو
په خپلو اوښکو چه مِ خپلے سترګے تر لرمه

# د ۱۸ اکتوبر ۲۰۰۵ د زلزلے تریخ یاد

اے زلزلے
ما چه به کله واوریدهٔ
چه تا په فلانی ملک کښے
فلانے ښار وران کړے ؤ
نو زما زړهٔ به یو ټق نعرے که
او یو خوږ خوږ درد به مِ په زړهٔ کښے
خوږے خوږے ستومانئے اوویستے
زما خیال به د هغے ښار لارو کوڅو ته لاړ
او هلته به ئے د هغے ښار د عظمت نندارہ اوکړه
د هغے ښار په لارو کوڅو کښے به ئے
هغو ټولو سترګو ته اوکتل
په کومو سترګوکښے چه ژوند او د ژوند پیغام وو
هغه میاندو ته به ئے اوکتل
کومو چه د دنیا لوئے لوئے تخلیق کاران
په ژوند سپړلو، ګلونو او رنګونو مئین خلک زیږولی وؤ
هغو بوډا ګانو پلارانو ته به مِ اوکتل
د چا په سترګو کښے چه به د ژوند شغلے نه ځائیدے
هغو پیغلو ته به مِ اوکتل
د چا په سترګو او شونډو کښے چه به

SAMSOOR.COM

**پیغلتوبونه نه ځائیدۀ**

د چا ښائستونه چه به د سندرو سرنامې وې
د چا خالونه چه به د مینې او تخلیق سرچینې وې
د چا د مسکا د سپرغیو نه چه به لمبې پورته کیدے
د چا د جمال او خیال جذبو چه به د دغې ښار حسن ته نمر راتیټ کړے ؤ
هغو ځلمو ته به مِ کتل
چا چه به د مینې د تخلیق په سرچینو ناسته کوله
مازیګرې به ئې کول
سپرلی به ئې کول
اخترونه به ئې کول
او د دغې سرچینو نه به ئې د سترګو کتورې ډکول
هغې ماشومانو ته به مِ اوکتل
د چا د یوې معصومې خندا نه چه به دا دنیا اباده ښکاریده
چا چه به په هر زړۀ کښې
او هر نظر کښې
د نوی ژوند د جذبو کر کوو
نو ما وے........ چه اے زلزلے
زه به تاته ګیله کووم
چه تا خو زما د زمکے
په ورانولو او جوړولو کښے
د لکونو، کروړونو کالونه
خوا سره کړے وه
تا خو دا دنیا، زما دنیا، د انسان دنیا

SAMSOOR.COM

دومره اړولے راړولے وه
او غبږ دِ کړے ؤ چه
ما دغه دنیا د انسان د ژوند دپاره تیاره کړه
او شاید انسان دغه غبږ اوریدلے ؤ
ځکه ئے ورته لبیک اووے
او اوزیږیدۀ
او هم ستا د مینے د ډک زړۀ درزا وه
چه انسان تر د خپل زړۀ د درزا دپاره
الهام واخستو
تۀ د حرکت لور وے
او انسان د دغے لور بچے ؤ
تا د دغے بچی تهذیب کړے ؤ
او دغه بچی په دغے تهذیب دومره نازکوو
چه د هر کهکشان په شوکه ئے کور جوړوۀ
مینه ئے کوله
او د خپل تخلیق شهکار ئے تصویر کوو
بلکه غوښتل ئے چه اوس ستا تهذیب اوکړی
خو ته خدائے خبرولے او شنګه، او په څۀ
په خپله خوار ئے پښیمانه شوے؟
چه خپل تخلیق او خپل تهذیب دِ اوجړقوو
داکومه جذبه وه، دا د کوم انتقام اور وؤ
چه ستا د زړۀ درزا ئے داسے تیزه او داسے تنده کړه
چه د لکونو زړونو کعبے دِ ماتے کړے

SAMSOOR.COM

او د لکونو زړونو ګلونه دِ ازار کړل
دغه ګیله، زما په زړهٔ کښې د سونامی طوفان په وخت هم وه
او د قطرینه او نورو  زلزلو او طوفانونو په وخت هم
ولې اے زلزلې
کله چه تا د کشمیر او پښتونخوا غرونه اوچړقول
نو زما په زړهٔ او روح کښې دِ نوے ګیلې او نوی سوالونه پیدا کړل
د کشمیر او پښتونخوا خلک خو د ډیرو  زمانو راسې
د ډیرو طوفانونو او زلزلو سره بلد وؤ
او دا ځکه چه دغو خلکو د ژوند غوښتنه کوله
د ژوند سندرے ئے وئیلے
هرے زلزلے هر طوفان چه ورله هډوکی ریز مریز کړیدی
نو دغو هډوکو له ئے کوشیر او ټکور د ژوند په سندرو ورکړیدے
نو اے زلزلے تا غو ږونه لرل؟
اوکه غوږونه دِ لرل نو بیا تا دغه سندره نه وه اوریدلے چه
وخت که هر څو په مونږه هر څومره ستم کړےدے
مونږ په سندرو د لوټ شوی ژوند ماتم کړےدے
که زیږ رنګونه مو په مخ الوزی دِ
مونږ تل سپرلے په زیږ ګلی او په شړشم کړےدے
نو د کشمیر او پښتونخوا د خلکو دغه انتخاب
تا د دے دپاره خو نهٔ ؤ کړے
چه تهٔ دوئے دومره مړهٔ کړے
چه دوئے د مرګ نه په انتقام اخستو مجبور شی
او د زلزلو سره داسے دشمنی اعلان کړی

SAMSOOR.COM

لکه خوشحال چه وئیلی ؤ
چه وانخلے له غلیمه انتقام
مرد نۀ خوب که نۀ خندا که نۀ ارام
نو اے زلزلے مونږ خو هغه خلک یو
چه تل مو دغه سندره زمزمه کړے ده چه
سل په لالی پورے دا یوه پرے د بنګړو
مونږ ډیر غلیمان لیدلی دی
هغه ورک شوی دی- او مونږ.........
مونږ لا یو- ژوندی یو او اوس هم د ژوند سندرے وایو
نو اے زلزلے- اے زلزلے اے زلزلے
په اصل کښے تا د خپل شان او عظمت خلاف
ګام پورته کړےدے
تا د خپل تخلیق د غلامئے نه انکار کړےدے
باید چه تۀ په خپل دے عمل ندامت اوکړے!!
ځکه چه- ستا فطرت د اوره جوړ دے
ستا روح د اور او لمبے تاؤ لری
ولے زمونږ د ماشومانو انغری دِ ساړه کړۀ
تۀ پوهیږے چه دا ستا د شان خلاف کار دے؟؟
تۀ یقین لره چه زۀ به بیا ژوند شروع کړم
زۀ به بیا تخلیق اوکړم
زۀ به بیا د ژوند د بهار سندرے اووایم
خو زما په زړۀ دِ یو داغ پریښودو
یو داسے داغ

لکه زما یو شاعر چه وایی
داغ د حسرت د ورکیدو نه دے
اوس دغه ګل د رژیدو نه دے
او داغ دا دے- چه هغه رور چه خور ترے ورکه ده
هغه خور چه رور ترے ورک دے
هغه مور چه لور ژاړی
هغه لور چه مور ژاړی
دغسے ژړاګانے مونږ د خپل ژوند په تاریخ کښے ډیرے کړے دی
ولے کوم کلی چه تا وران کړۀ
په دغو کلو او دغو لارو کوڅو کښے
به څومره څومره مینے خلکو کړے وے
څومره مینے به تکمیل ته رسیدلے وے
او څومره مینے به په خپل خپل اور کښے سوزیدے
او دغه لارے کوڅے به پرے ګرمے وے
هغه مینے دِ په څومره بے دردئے د یو بل نه اوشوکولے
هغه مینے دِ څومره بے وخته مړے کړے
هغه سترګے چه ځوانئے او پیغلتوبونه په کښے نه ځائیدۀ
د هغو سترګو نه دِ د خپلو معشوقو تماشے اوشوکولے
فی الحال دِ زمونږ د تخلیق سرچینے اوچے کړے
خو یاد لره چه مونږ انسانان یو
مونږ ژوندی خلک یو
مونږ- کولے شو- چه د هغو تصویرونو نه
د هغو سترګو د ځوانیو نه

د هغو شونډو د مسکیتوبونو نه
خوبونه را ټول کړو
رنګونه را ټول کړو
او د نوی تخلیق تصویرونه پرے اوخندوو
اے زلزلے مونږ به ستا قصه چرے هیره نۀ کړو
مونږ به ستا قصه خپل راتلونکو نسلونو ته
اورسوو
خو یوه قصه زمونږه هم یاده اولره
تا چه په کومو ښارونو
او کومو کورونو خپل نیت اورولے دے
هر څۀ دِ لوټے کټے کړیدی
په هم هغو ځایونو کښے مونږ
نوی ښارونه- او نوے لارے کوڅے جوړے کړےدی
نوے پیغلے او نوی زلمی پکښے
د ژوند پیغامونه ویشی
او د نوی کور نه نوے حجرے ته
هر ماښام یوه نۀ یوه ډیوه روانه وی
او د یوے کوڅے او یوے بلئے نه یوه سندره
اوریدے کیږی چه
ما پرے سیزے
ځے په مکیزونو یاره
حجرے له بله ډیوه وړے

SAMSOOR.COM

# د امن لوبه

نظم: پیټر شیټ

ترجمه: سائل

ماشومانو په غولی کښې د جنګ جنګ لوبه کوله
او د ورو د جنګ د لوبې شور
توبه توبه الامان
ما د کړکئې نه سر ور بهر کړو
او اواز مې ور کړو
بچې د امن امن لوبه کوئې!
هغوئی زما اواز واوریدو
او ماته یقین اوشو.
چه اوس به د دوئی شور لږ کم شی

SAMSOOR.COM

ماشومان خوشحاله شو
او یو بل ته یې په یوه خوله اووے
راځئے چه د امن امن لوبه اوکړو!!
ولے ډیر زر په دے فکر کښے بیخی خاموش اودریدل
چه د امن امن لوبه به کوؤ څنګه
او بیا یو بل ته غصه شول
یوکس کړکئے طرف ته مخ راواړوه
او په لوړ اواز یے اووئیل
اے د دریو بالښتونو همره قدواله مشره
لږ خو مونږ پوهه هم که
چه دامن امن لوبه خلک څنګه کوی
او طریقه ئے څۀ ده؟
اوس زۀ په فکر کښے شوم
په دے لوبه خو زۀ خپله هم نۀ پوهیږم
څکه نو اعتراف کومه
چه زۀ ددغے ماشوم
په سوال کۀ پوهه هم شوم
خو خدائیګو هیڅ جواب ئے هم رانغے
زۀ اوس ددے ماشوم
دا حیرانوونکے سوال له تاسو کووم
د امن امن لوبه څنګه کیږی.

SAMSOOR.COM

○

اوښکې څۀ داسې چل په سترګو د جانان کښې کوي
لکه واړه چه پټ پټونړی په باران کښې کوي

زړۀ چه زخمي شي درد کوي ولې چه درد زخمي شي
لکه چه سر غونډ کې شمع په طوفان کښې کوي

ما د تېږې غونډې په غېږه د ژوندون کښې واخلي
ماته زما قيصه په زار او په قربان کښې کوي

د غوټۍ پټ تبسم هم د ګلستان برخه وي
دا خلک څنګه ژوند په ذات کښې او په ځان کښې کوي

مونږه مدام په هره ګټه کښې تاوان کړے دے
مونږ هغه نۀ يو څوک چه ګټې په تاوان کښې کوي

د ښستنې مينې د زخم د ګلابه ځار شم
چه تل ګلونه په فراق او په هجران کښې کوي

شمه حيران دا دلته دومره خاموشي ولې ده
کۀ وچې هم شي پاڼړے شور خو په خزان کښې کوي

چه زړۀ ترے غواړي، سر ترے غواړي، د خيال اور ترے غواړي
سائل ژوندون د داسې مينې په ارمان کښې کوي

SAMSOOR.COM

○

پیښور او کابل دواړه دوه یاران دی
لکه دوه سترګے په یو مخ د جانان دی

ما چه اووژنی ځوانی او ژوندون راکړی
کۀ ددغے کۀ د هغے ښار خوبان دی

پښتانۀ په خپلو ټکو کښے معنے دی
خوشبوئے دی په ولاړه کښے روان دی

د دنیا د ابادئے دعوے دروغ دی
چه تر څو د پښتنو کورونه وران دی

زرکے زرکے تورے تورے بلا سترګے
چارچاپیره رانه څومره قاتلان دی

ګوټ پیرونه د مقیشو لوپټے کړئے
تماشے ته ولاړ ستوری د اسمان دی

SAMSOOR.COM

په بنړو ئې اوښکې ستورې کيږي
ژړيدلې ښاپيرې د روهستان دي

د بيلتون په غولې وير دې اوژړا ده
سبا بيا لوبې د زړونو په دامان دي

پيغامونه د خالونو د خوبونو
تصويرونه د ګلونو د باران دي

لا پرې نۀ دي نرګسې غوټئې ګل شوې
لولکئې ئې بنړيدلې په ګريوان دي

د غمجنې نغمې خُوږ زړۀ د کتو دې
چه خوبان ئې د خوبونو بنديوان دي

محبت نۀ دې قدم په قدم اور دې
څۀ لمبې د انتظار څۀ د هجران دي

ستا د زلفو د سايې په ارمان پايي
د سائل د ژوند غرمې په بيابان دي

SAMSOOR.COM

## زړه قصه نوے معنے

دلته د دے کلی ځنګل ته یو ورځ
د څو صوفیانو یوه ډله راغله
د ځنګل ټولو مرغو
سندرے بس کړے او د دوئی د عرفانی سندرو
په تماشه اودریدے
څو ورځے تیرے نۀ وے
چه یو صوفی پکښے یوه سپینه کوتره ښکار کړه
ټولو مرغو ټولو کوترو په یوه مشوره
یو کورنئے غونډه راوبلله
د مرغو مشر ته ئے
په یوه خوله یو شکایت پیش کړو
چه دےځنګل ته څو صوفیان راغلی
هغوئی پخپلو عرفانی سندرو
زمونږ د شونډو نه سندرے تروړی
یواځے دا نۀ کوی
اوس ئے زمونږ په عزیزانو کښے د ښکار په نامه

SAMSOOR.COM

د يو دويم ثواب اغاز کړے دے
يوه کوتره ئے د خپلو عرفانی سندرو
په تصور کښے ډوبه
بے پامه وويشتله
ددے خبرے سره
د مرغو مشر لاړو
او د صوفيانو د امير په مخکښے
يے شکايت پيش کړو
امير پخپله د مرغو مشر ته
يوه پريکړے شان خبره وکړه
ښکار خو روا هم دے، حلال هم دے
دا کۀ په ښار کلی بانډه کښے وی او
کۀ په صحرا دشته کښے
کۀ په ځنګل کښے وی هم ښکار د انسانانو حق دے
مونږه د حق ملګری
مونږ تل د حق دپاره کار کړے دے
په دے کښے تۀ څۀ وائے؟
د مرغو مشر ورته داسے ووے
ما خو لتاسو نه د ښکار شکايت نۀ دے کړے
شکايت دادے چه څوک ښکار کوی
هغه ځنګل ته راځی
ولے د ښکار جامه کښے

SAMSOOR.COM

هغوئی خپل ښکار کوی
چه ښکار وی کار د هغوئی
مونږه ترے ځان ساتو
چه مونږ ته خپل مشران
د هر ښکاری ځنے د ځان ساتلو
د وړوکوالی راسے
یو تربیت راکړے
ولے امیر صاحبه!
ستاسو جامه خو د ښکاریانو جامه نهٔ وه کنه
تاسو چه راغلئے مونږه خپلے نغمے
د یو ساعت دپاره هیرے کړلے
ستاسو په شونډو عرفانی سندرو
مونږه د ځان د حفاظت نه بے نیازه کړلو
مونږ شکایت نهٔ کوو
ځکه چه مونږ چه پیداکیږو نو په خپل مرګ مونږه چرے چرے
مړه شوی نهٔ یو، چه مرو
چرته په ډز مړه کیږو
چرته په لیندو او غشو
خو قربان تاسو خو زمونږ نسل ته
یوه دوکه راکړله
هغه هم غیر پارلیمانی، غیر جمهوری شان دوکه

○

ځمه په ورکو لارو ځم درپسې
په صبر صبر نهٔ شي مرم درپسې

زما لالیه سمندر وړیه
ترڅو به شګې چاڼؤم درپسې

وچې مِ اوښکې شوې په سرو سترګو کښې
باقي به سترګې څڅوم درپسې

مړ که ژوندې ئې چه غږ نهٔ راکوې
ورتې ورتې چغې وهم درپسې

کومې کوڅې به وی ابادې په تا
کومې کوڅې به لټووم درپسې

محفل شی جوړ تا پکښې اونهٔ وینم
سترګې چاپیره ګرځووم درپسې

د سائل ژونده د سائل جانانه
په مات کچکول پتری وهم درپسې

SAMSOOR.COM

په زور ساتو خاموش د لیونئے مینے رازونه
ستا مخ ئے تیرسری کۀ زما شونډے ئے پاړونه

یو ځل خو به ئے اوشیندی سپرلی د پښتونخوا هم
په شونډو د غوټو کښے د ګلونو پیغامونه

دا شګے لړ په پام رابادوه د وطن باده
په سترګو کښے مو اوښکے دی په اوښکو کښے زخمونه

د زړۀ صنم خانه کښے به ئے ګور ته رسوؤمه
جانانه ستا د سترګو ژړیدلی تصویرونه

غړیړی پکښے لیچ هسے ازغی د شوګیرونو
کۀ سترګے رانه ډیر غواړی خواږۀ خواږۀ خوبونه

حالات څۀ دی د مینے د رسمونو قاتلان دی
ستا سترګے شی سوالونه زما سترګے جوابونه

چه ژبه مِ ورنۀ کړه د مئینو بے وسئے له
په دے څۀ کۀ لرل مِ د لفظونو لښکرونه

دړدونه د پرهر نه بهر مۀ پریږده سائله
په زړۀ ژاړه دننه پښتانۀ محبتونه

SAMSOOR.COM

SAMSOOR.COM

○

زمکه اوده اسمان اوده دے ټول جهان اوده دے
ما له خوب نه راځی په خوا کښې مِ جانان اوده دے

چه دنیا ساه نه اخلی ټول کائینات رپ نه وهی
خدایه دا څوک مِ په څنګل کښې د ارمان اوده دے

دومره ئې پرېږدئې چه تصویر ئې د خوبونو جوړ کړی
د ملالئې د وطن خوب وینې افغان اودهٔ دے

مونږ پویوی په داؤ او پیچ د ژوندانه د لوبې
په مونږ ئې تندر راپرے یستے دے اسمان اودهٔ دے

دا سمندر سینې زمونږ د ځوانی مرګو سینې
په دے یوه یوه سینه کښې یو طوفان اودهٔ دے

په خوب کښې تا وینی ستا نوم اخلی ستا ذکر کوی
په پرهرونو کښې مِ زړهٔ د ګل په شان اودهٔ دے

ورته دعا مهٔ کوه مړ نهٔ دے دعا ترے واخله
ستا شهید ستا د شاعرئې مردِ میدان اودهٔ دے

چه د وطن د ترقئې بلا دعوے دی پکښے
وطن د هغے کاغذونو په ډیران اودهٔ دے

په ژوبل ذهن ئې هم خیال ته رسیدهٔ غواړمه
د تصور تصویر ئې ویښ دے او امکان اودهٔ دے

زهٔ د اخرے زمکے تل ته رسیدلے یمه
په اخری اسمان زما ماهِ تابان اودهٔ دے

سائله چرته چه ؤ کفر بے وجدانه ژوندون
غضب خو دا دے چه هم هغلته وجدان اودهٔ دے

SAMSOOR.COM

○

ژوند څۀ خو یو نغمه ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری
د زړۀ د دړد قیصه ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

قیصه مِ د جانان د اداګانو د تصویر ده
بیلتون دے نیمه شپه ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

د څو پیړو نه خدائے زده په زخمی زخمی اواز کښے
سلګئے سلګئے ټپه ده څوک یے وائی څوک ئے اوری

غمژن دے د مودو نه روایت زمونږ د مینے
د اوښکو سلسله ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

الفته درلوګے شم ستا د ناز هره خبره
خوږه ده هم ترخه ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

راټول دی لیونی د ښائستونو د خوبونو
په سترګو تبصره ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

هر چا ځان سره یو غزل راوړے د سائل دے
محفل دے او حجره ده څوک ئے وائی څوک ئے اوری

SAMSOOR.COM

○

چرته چه زر د دلبرئے او دلدارئی معیار دے
هغلته څهٔ د زړهٔ معیار او عاشقئی معیار دے

قتل ډاکے خودکش حملے زمونږ منزل او مراد
دا مو د فخر معیار دا د ژوندګئی معیار دے

چه خولهٔ پرانیزی نو تخریب ته پاروی خلکے
زمونږ په ګران وطن کښے دا د رهبرئی معیار دے

ظاهر فقیر په زړهٔ کښے منصوبے د پیسے
زمونږه دغه د پیرئی او مریدئی معیار دے

اخوا باډر ازادوی دے خوا ته باړ لګوی
دا د دوستئی معیار هغه د دشمنئی معیار دے

له مانه ما هم اخلی ځان په ما منل هم غواړی
دا د بنده د خیال معیار دے کهٔ د خدائے معیار دے

SAMSOOR.COM

○

د زړهٔ د دړد په اور کښې ټول عمر شوګیر پاتے شوم
بیا هم څهٔ نهٔ وایم خاموش لکه تصویر پاتے شوم

کومه ادا درته زما د لیونی ښکاریده
چه دِ بندی مدام د زلفو په زنځیر پاتے شوم

ستا د ښائست یوسف د مصر باچائی غوښتله
زهٔ دِ په یو موټې مالوچو دعوه ګیر پاتے شوم

تاج محل ما نهٔ لرهٔ تا د فن محل څهٔ کوؤ
تهٔ نورجهان نهٔ شوے او نهٔ زهٔ عالمګیر پاتے شوم

مبارک تا ته ستا د حسن د غرور باچائی
زهٔ مِ د خپلے برخے خپل غم په جاګیر پاتے شوم

په تا کښې ځائے د غرور وؤ په ما کښې ځائے د مینے
تا کهٔ نظیر نهٔ لرهٔ زهٔ هم بے نظیر پاتے شوم

لکه د یو ټکی دِ یو خال د جبین په کتاب
زهٔ ئے مفهوم زهٔ ئے معنے زهٔ ئے تفسیر پاتے شوم

تهٔ ملکه د حسن لاړے د خندا نه په شا
زهٔ چه سائل وؤم په ژړا پاتے په ویر پاتے شوم

SAMSOOR.COM

# لار

مـونږ د منصـور د جنـون تـا د مـلا لار اونيـوه
تـا د ثـواب مـا د الفـت د ګنـاه لار اونيـوه

مـنم بـلا خلـک بـلا خلکـو تـه لارې نيسـې
خو تا په کومه خوشحالئ کښې زما لار اونيوه

SAMSOOR.COM

○

د حسن خیال د ژوند په کومه څانګه خور نهٔ دے
راوړے چا پـه زړهٔ د دے تماشـے اور نـهٔ دے

په ما ئے تورو سترګو سترګے تورے تورے کړلے
څنګ ترے منکر شم چه زما د سترګو تور نهٔ دے

خوند میخـواری پـه میخانـه د پسرلی کښے کـوی
د ګل هرجام د رنګه ډک دے خو نسکور نهٔ دے

لمـبے لمـبے ملالـے سـترګے رانـه مـهٔ اړوه
لا مِ د زړهٔ د د ړد غنـدل ټکـور نـهٔ دے

هغـوئی د زور او زورور پـه مطلـب څـهٔ پـوهیږی
چـا چـه لیـدلے د جانـان د نظـر زور نـهٔ دے

سائل د سترګو او نظیر په پیمانو څکلی دی
سائل ولاړ په میخانو کښے دے میخور نهٔ دے

SAMSOOR.COM

# سندره

مونږ خو پکښې کله کله تش مازيګرې کوؤ

نور خو پيښور

ګل ګل پيښور

پيښور ستاسو دے جانانه

ژوند خو پکښې تاسو کوئے مونږ خو تماشے کوؤ

نور خو پيښور

ګل ګل پيښور

پيښور ستاسو دے جانانه

مونږه هر ارمان په خندا راوړو په ژړا ئے وړو

تاسو په قدم قدم کښے اوريژوئے خپل ارمان

مونږه ړاوی ړوای بانړه ړاوے سترګے بيرته ځو

تاسو په رنګونو کښے خمار خمار کړئے ګل ارمان

مونږ خو دعا تاسو ته کوؤ ځان ته ښيرے کوؤ

جانه پيښور

ګل ګل پيښور

پيښور ستاسو دے جانانه

SAMSOOR.COM

تاسو سودا ګانے اوکئے مونږ سودایان اوګرځو
تاسو په ځان لوبے اوکئے مونږه په ځان هر ظلم
تاسو په هر ګل اوکئے الوت د لولکو په شان
مونږ اوکړو په زړهٔ ظلم په ځان او په نظر ظلم
تاسو یئ پخپله قیصے مونږ ستاسو قیصے کوؤ

نور خو پیښور
ګل ګل پیښور
پیښور ستاسو دے جانانه

تاسو د سائل هرے سندرے ته فطرت بښئے
مونږ له د سائل سندرے تل ټکوروی زړونه
تاسو مونږ ته اوښکے بښئے نول د محبت بښئے
مونږ نه ستاسو غلهٔ کاتهٔ غلے سترګے تښتوی زړونه
تاسو کوئے سیل مونږ تلوسے او وسوسے کوؤ

نور خو پیښور
ګل ګل پیښور
پیښور ستاسو دے جانانه

SAMSOOR.COM

○

هر زرهٔ چه پیدا شي یو ارمان د ځان سره راوړي
خیال د خپلې خوښې د جانان د ځان سره راوړي

زهٔ لکه یواځې ګل د زرهٔ په دشت اوچیږمه
سترګو ته دِ وایه چه باران د ځان سره راوړي

خدایه دا په دې باب کښې دِ څهٔ فلسفه اېښې ده
مینه چه پیدا شي نو هجران د ځان سره راوړي

ماله چه راځي اوښکې ئې وي په بڼرو څوړندې
ستوري د اسمان ماه تابان د ځان سره راوړي

راغلم خو چه ځان ته ګورم ځان راسره نشته دې
څوک به د جانان د کوره ځان د ځان سره راوړي

پټ چه مِ د سترګو نه جهان کړي د جهان تئیرې
ستا سترګې یو نوې شان جهان د ځان سره راوړي

کله چه سائله خاموشي زرهٔ ډوبونکې شي
څوک خو وي چه شور د ګلستان د ځان سره راوړي

SAMSOOR.COM

○

نغمې پیکه محفل غمژن وی چه جانان نهٔ وی
ګلونه اوچ شی چه اوبهٔ نهٔ وی باران نهٔ وی

د ژوند مطلب څهٔ وی معنې د احساساتو څهٔ وی
د چا په زړهٔ کښې چه حسرت نهٔ وی ارمان نهٔ وی

د ګل د غیږ او د ازغی د سوی نه نهٔ وی خبر
چه ئې پرهر په سینه وینې په ګریوان نهٔ وی

چه سر په تن ساتې په لاس کښې ئې پریکړې نهٔ وړې
د یار دیدن داسې اسان داسې ارزان نهٔ وی

مینه د داغ او د لمن فلسفه نهٔ پیژنی
د مئینانو قبیله او خاندان نهٔ وی

خولې خولې شمه د ډیرې حیرانئې نه ورته
چه ائینه د حسن ګوری او حیران نهٔ وی

زهٔ او جانان دغسې شپه د دیدن شپه نهٔ کړو
چه مو په مړو بڼړو د اوښکو چراغان نهٔ وی

زنځیر د مینې لیدے نهٔ شی په نظر نهٔ راځی
سړے بندی وی کهٔ زندان وی کهٔ زندان نهٔ وی

تهٔ د جانان په ځائې په ځان باندے خبرے کوے
سائله چرته چه جانان وی هلته ځان نهٔ وی

SAMSOOR.COM

# سزا

اوس زهٔ یواځې یمه
اکثر یواځې یمه
په ډیره ګڼه کښې هم
اکثر یواځې یمه
او چه یواځې یمه
نو په یواځې کښې زما د زړهٔ نه
ماته یو خوږ غونډې اواز راځی
په دې اواز کښې ماته
یوه خوږه غونډې خبره کیږی
خبره دا وی چه تهٔ مینه اوکه
سزا د مینې اوخوره
چه د ژوندون په معنې
او په مفهوم پوهه شې
زهٔ چه د مینې نه د ډک زړګی نه
قیصه د مینې واؤرم
خدایګو چه اورپیږم اوبوګنیږم
دلته خو هر حسن په لویې بازار کښې ناست فنکار دې
چرته کښې جال جوړوی دام جوړوی
کهٔ چرته ګیر شمه په جال او په دام
زما د زړهٔ نه بل اواز راشی
چه ځه ازاد شوې ځه ازاد اوګرځه
د ازادئې دغه بې کیفه سزا
د ځان دپاره غنیمت اوګڼه
او زهٔ یواځې شمه
او سزاواره زندګی تیروؤم

SAMSOOR.COM

○

تا وئیل چه مینه به کوږ خو پښتنه مینه
ما وئیل چه ستا د خوب او خیاله هم درنه مینه

زهٔ چه پکښې تا د ځان په ځائې وینم تهٔ ما وینې
یو بل ته به داسې مخامخ کړو ائینه مینه

ساه هم چه جانانه بې دا ستا د یاده اخلمه
دا به مینه نهٔ وی دا به وی جانانه نهٔ مینه

بې د مینې ژوند څهٔ بې ایمانه ژوند وی ورک دِ شی
سر کهٔ دِ د ګور په خازه هم لګی منه مینه

تا مِ د زړګی په پرهرونو کښې کرلې وه
تا مِ کړه د زړهٔ په پرهرونو زرغونه مینه

ما ته سرې لمبې شوې سرې لمبې ئې زما شونډې کړې
تا په داسې سرو شونډو کښې راکړه پیمانه مینه

کله ځان ته ګورم کله تا ته حیرانئې وړې
ما ته دِ څهٔ داسې حقیقت کړه افسانه مینه

اودِ رسی دواړو جهانونو ته دِ اورسی
ځه چه کړو په غبرګو اوازونو ترانه مینه

ساه اخلی سائل د نوی نوی کیفیت سره
ورکړی په رښتیا انسان له نوې زمانه مینه

SAMSOOR.COM

○

الفت داسې لوګې دې چه لوګیږی لیدې نۀ شي
دا اور څۀ داسې اور دې چه بلیږی لیدې نۀ شي

جانان مِ د خوشبو هسې د خپل وجود قایل کړی
په خوا کښې مِ تاویږی راتاویږی لیدې نۀ شي

هر ګل راته د هغو سترګو هغو شونډو وائي
دا څوک پکښې په کوم هنر ګډیږی لیدې نۀ شي

دا ستا اوښکې زما او زما ستا د سترګو څاڅي
باران دې چه په هر طرف وریږی لیدې نۀ شي

قربان د محبت د جدائۍ د بې وسۍ نه
زړګې به دِ د ډیر دړده ټرقیږی لیدې نۀ شي

محفل دې د حسینو تبصره په شاعرۍ ده
سائل چرته غزل وائي غږیږی لیدې نۀ شي

SAMSOOR.COM

○

سترګې دِ هر چا له پیغام جدا جدا ورکوي
خو لار یوه ورکوي زدکړه د رښتیا ورکوي

ژوند ته مفهوم ورکوي زړونو ته معنې ورکوي
څوک چه جانان هم لري ګل هم په خندا ورکوي

د تبسم نه د خالونو دِ لوګې محبوبې
زما د سوی زړهٔ داغونو ته رڼا ورکوي

په داسې حال کښې هم ستا غم له څڼره سترګه کوؤم
چه مِ په غیږ کښې قتل شوې جذبې سا ورکوي

زړهٔ مِ نادان سهي خو دومره خو نادان هم نهٔ دے
چه د ریا په ثوابونو کښې ګناه ورکوي

مونږه غلاګانې هم د زړونو مقدسې ګڼړو
دلته چه څوک ورکوي زړهٔ چاته په غلا ورکوي

دا سودایان نهٔ دي دا نوي سوداګر خلک دي
چه سوداګانې سودایانو له نسیا ورکوي

د ړومبنې دیدن په ترنده لمحو کښې
سائل

SAMSOOR.COM

## تحفه جانان ته د مئین زړګی درزا ورکوی

○

دا زۀ سپوږمئی په غیږ کښې واخستمه
کۀ زندګئی په غیږ کښې واخستمه

شهکار د خدائې په غیږ کښې څۀ واخستم
ما وے کۀ خدائې په غیږ کښې واخستمه

ستا د ځوانئی د ټاله پریوتمه
خپلے ځوانئی په غیږ کښې واخستمه

لکه رنړا مِ په تئیرو پسے وړی
داسے سیلئی په غیږ کښې واخستمه

ستا دلبری مِ په ژوندون خوره شوه
ستا دلدارئی په غیږ کښې واخستمه

SAMSOOR.COM

پــه خولــه ســندره شــوه ژړا د ســائل
یــوے ســلګئی پــه غیــږ کښــے واخســتمه

## احساس

SAMSOOR.COM

وؤ د بلا مودے نه
ما په خپل ذهن کښے هر خیال په زولنو تړلے
ځکه چه ستا د محبت حادثه
خدائے خبر ولے خو ما خپله راهنما ګڼړله
خو تا هم دغو زولنو ته زما
ځو نورے نوے جرندے واچولے
اوس دغه خپلے زولنئے چه کله هم شرنګوؤم
زړئے د دے ویرے نه
په خولهٔ لاسونه کیدم
وایمه هسے نهٔ چه تهٔ رسوا شے
او په الفت د خلکو

هغه کلک شوے ایمان
او کلکه شوے پښتو
ټکنړئے نۀ شی ملامته نۀ شی

○

دا اوښکے او دا وینے راټولے کۀ سمبال ئے که
خیال ئے که د ژوند د ملالئی د جبین خال ئے که

دا ستا په سینه لونګین درے دے کۀ ځلور لړه
دا اودۀ خیالونه پکښے اوځنګوه ټال ئے که

ځان که ادم خان زړۀ لکه غږ د ادم خان رباب
دوړے د "درخو" د خاله ځنډ وهه مشال ئے که

دا نمناک بانړه په ژړا وران مخونه ورانے خولے
جوړ ئے که تصویر ئے که جلال ئے که جمال ئے که

ټول عمر له خوند حیرانی نۀ کوی په سترګو کښے
غم مۀ کوه خوک به ئے جواب اوکړی سوال ئے که

SAMSOOR.COM

بس که سیپارے د خپل زوال په ژړا مۀ وایه
نر شه نارینه سترګے ور واړوه کمال ئے که

غواړی د دے لارو دے کوځو نه بے ننګی وینځل
نۀ کیږی په مړو اوښکو باران د پشکال ئے که

SAMSOOR.COM

# ازغی

هغه زما په زړهٔ کښې
د نا مفهومو لیونو کیفیتونو ګلاب
اوغوړوی
بیا ئې په پاڼړو لولکئې د نظر
اوبنړوی
زما د هر کیفیت رنګ چه سوزی
هغه پرے ځان مشغولوی
هغه پرے لوبې کوی
دا لوبې نهٔ راځی د لفظ د ائینے په روح کښې
کله ترے دړد پیدا شی
کله ترے نعرے پیدا شی
دړد چه خبرے کوی
مونږ ورته سندرے وایو
سندرے څهٔ وی خو د ورک جانان په یاد کښے چغے
چغے سورے څهٔ وی
څوک څهٔ پوهیږی
لکه په خپلو پرهرونو کښے ازغی لټول

SAMSOOR.COM

○

هغه زما په شان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے
زما قاتل جانان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

لوئی دِ ستاسو مبارک شی ما وړوکے پرېږدئے
زما د زړۀ نادان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

په خوږو لارو چه ځم جانان له ځی راسره
په ما مئین ارمان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

زړۀ چاؤدے دشتے دی تنها شعور ورکیږی پکښے
د لیونتوب پیریان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

زړۀ به د حورو او غلمانو پکښے اونۀ لږی
د دے دنیا خوبان زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

د ژوند فکرونه دی کۀ غوښ غوښ د جانان غمونه
دا لیونی یاران زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

زړۀ وی اباد د سائل تل په وریدونکو سترګو
داسترګے دا باران زما د زړۀ نه مۀ اوباسئے

SAMSOOR.COM

# احترام

اے د مشرق او د مغرب د شودرخیلو بچو
د دے دنیا تجربه ګاه کښے د نصیب جوارئے
تاسو بائیللی یئے
او ځار مو شم بائیلی خلک
وی غلامان او غلامان د ازادئے خوبونه
چه کله هم اووینی
د دے دنیا همه غټان وارثان
ورته په خوا کښے دلالان پیدا کړی غلهٔ پیدا کړی
هغوئی د دوئی په ګوتو
دوئی له د سترګو ککئی
داسے نوکارے کړی زخمی زخمی کړی
چه دوباره د داسے خوب د لیدو
ارمان په سترګو کښے را اونهٔ نغاړی
داسے زرګونه کاله
هغوئی لکونه ځله
زمونږ د سترګو نه خوبونه وړی
خوژوند خوژوند وی او د ژوند غوندے کافر په زړهٔ کښے
رحم هم نهٔ وی او زمونږ نه تقاضے هم کوی

SAMSOOR.COM

چه مونږ د مرګ په خولهٔ کښې
د ژوند وړهٔ غوندے سودا په سر کښې هم اولرو
داسې سودا چه مونږ د خپلې غلامئې ژوند ته ژوندی اولری
او په نوکارو او زخمی ککو کښې
چرته وړوکے او غل شوے غوندے خوب اولرو
مونږ د مغرب او د مشرق د شودر خیلو بچې
اوس هم په خپلو سترګو
کښې څهٔ خوبونه لرو
خو دا خوبونه کهٔ هر څو زمونږ په سترګو کښې دی
زمونږ خوبونه نهٔ دی
سترګے زمونږ دی خو خوبونه ئې پردی دی
نو اے د مشرق او د مغرب د شودرخیلو بچو
هغه شلمه صدئې
وه د ظلمونو د زغملو صدئې
هغه صدئې تیره شوه
د یوویشتمې صدئې څلور پنځهٔ کاله نور هم تیر شو
دا صدئې صرف د ظلمونو د زغملو نهٔ ده
د دے صدئې عظمت کښې نوے ګستاخې پیدا شوه
د دے صدئې ګستاخئې
نوے بچے د غرور اوزیږوؤ
د دے ظلمونه اوس زمونږه نه ناکام هم غواړی
د دے ظلمونه اوس زمونږ نه احترام هم غواړی

○

منم چه هر پښتون ستائيلے شی کمال د پښتو
خو هر پښتون پټوی سترګے په زوال د پښتو

مونږه به وير کوؤ تر کومے کال په کال د پښتو
مونږ به تر کومے ژاړو هر کال په زوال د پښتو

پښتون به هيچرے ازاد د غلامئے نه نۀ شی
خو چه د ژوند په لاره يو نۀسی مشال د پښتو

سوال به کوی سر تور به ګرځی په پردو کوڅو کښے
خو چه راخستے پښتون نۀ وی توره ډال د پښتو

تۀ به ترے خو ختے په ژبه خځيدونکے وينے
په خپل پرهر کښے دِ کښينښودو دسمال د پښتو

داسے دِ ولے دا پښتو ژبه فقيره کړله
تۀ خو جلال وے د پښتو تۀ وے جمال د پښتو

خواره قسمته څۀ فال ګرو ته دِ کينولو
خدايه د کوم پښتون په سر اونيسو فال د پښتو

SAMSOOR.COM

هـر چـا د خپـل حسـن يوسـف بـازار تـه اورسـوؤ
خدايه په دومره قام کښې چاته اوکړو سوال د پښتو

زمـونږ پـه فـن بـه وی تـر څـو خـوارهٔ غمژن رنګونـه
مونږ به په خپل فن کښې تر څو کـوؤ ملال د پښتو

چه ځائے د خپل وطن پخپله مدرسه کښې نهٔ شوه
په داسے حال کښې به څهٔ رنګے ښه شی حال د پښتو

هر چا په سر د پښتو نـورے نـورے ژبے زده کړے
خـو پيـدا شـوی پکښې کـم نمـک حـلال د پښـتو

مـونږه بـائيللو جـوارګرو تـل بـايلات کـړےدے
مونږه سرتور سر له راوړے نه دے شال د پښتو

پراتـهٔ لړونـه ئـے پـه هـر پـړاؤ کښے پروکـی پروکـی
مونږ په خيالونو کښے ځانګلی تل په ټال د پښتو

وريپســے ګــوری هــديرے دا ليــونی شــاعران
پښتون په لوئے لاس دفن کړے دے جنجال د پښتو

وخت را روان دے چه دا ژبه به د ژوند ژبه وی
ګرانه سائله ټول خوبونه کړه سمبال د پښتو

SAMSOOR.COM

○

اوښکے چه پیدا وے د رشتیاؤ نه رشتیا ئے وے
تلے په مخ زما خو ستا د مخ د ګل ثناء ئے وے

عشق وؤ دا کۀ نوره تماشه وه پوهیدو پرے نۀ
هر څۀ چه به وے زمونږه زړونو په درزا ئے وے

ځان پرے که تالا خو سترګے تیتے د الفت نۀ کړے
ماته چه به کله زړۀ له دړده وے نو دا ئے وے

مړے هر سحر هر ماښکر دے بے جانانه ژوند
ژوند خو تر هغے وؤ چه د مینے د ګناه ئے وے

تور کۀ ئے خالونه وؤ کۀ زلفے وے کۀ سترګے وے
تور به وؤ دا هر څۀ خو سندرے د رنړا ئے وے

قید وؤ خو سنګار ئے ازادئے له په نغمو کوؤ
عشق چه هر څۀ وے د زنځیرونو په شرنګا ئے وے

زۀ څۀ سوزونکو تماشو له پیداشوے یم
اور شو پسرلے چه ستا د شونډو د خندا ئے وے

ستا معصومو سترګو چه به واخستم په غیږه کښے
هر څۀ چه ئے وے ماته د مینے د ګناه ئے وے

ډکه وه دنیا وؤ په هر خوا د خدائے بلا ښکلی
ما سائل چه زړۀ ته وے د کوم ښکی نو ستا ئے وے

SAMSOOR.COM

○

را ویښ ئې کړم د چړ د چینې شور ؤ ستا اواز
راپورې شو لمبه ئې کړمه اور ؤ ستا اواز

ددې دنیا د دې سر نه تر هغه سره پورې
جانانه ستا د حسن په شان خور ؤ ستا اواز

زما ئې په پاکئې کړه د رګ رګ نه وینه وچه
خون خور ؤ ستا اواز او کۀ میخور ؤ ستا اواز

خنجر شۀ زما زړۀ ئې پراټې پراټې یوړۀ
کۀ بیرته ئې راټول داسې ټکور ؤ ستا اواز

د سرو وینو ګوټونه چه د خولې نه غورزؤمه
راکړې دِ پې پامه دومره زور ؤ ستا اواز

ؤ دړد پکښې د ژوند سوز د شپیلئې د غږیدو
چه کوم طرف ته تلمه لور په لور ؤ ستا اواز

سائل ؤ د خپل خُوږ زړۀ په پرهر پورې
نیولې

SAMSOOR.COM

## ژونـدون ئـې ؤ الـزام ؤ کـۀ پیغـور ؤ سـتا اواز

○

لکـه د درد د تیـره څـړیکې د پرهـره خیـژم
د غوځـو شـونډو نه وَرتـه وَرتـه سندره خیژم

د ژوند ارمان شوم د ماضی د غیږې والوتمه
د مستقبل جانان له ځَم اسمان ته بره خیژم

SAMSOOR.COM

په خپلو وینو کښې ټول عمر تلیدلے یمه
لکه لمبه یمه اکثر د خپله سره خیژم
بے قراری مِ سمندر هسے په ځائے ولاړه
لکه لوګے د خپل قرار د سمندره خیژم

لیونے مینے بے ګودره لاهو کړے یمه
دا چه ډوبیږمه په دے چه بے ګودره خیژم

دا چه مِ نور عالم ښار پار د زلزلو نه کوی
د ملاکنډ د غر اواز یم د خیبره خیژم

د پښتونخوا د مخ خالونه به بخرکی کړمه
ورته شغله شغله د خپل اسمان د نمره خیژم

ملالئے بیا راشه ټپه ئے که د ژوند په نامهٔ
زخمی به یم خو یو پښتون غږ له سنګره خیژم

دا د خبرو نه اوباسمه رشتیا خبرے
دا چه بے واره په یوه یوه خبره خیژم

ځمه ارمان د نارنج ګلی د میلے ریژووٶم
په موده پس کابل ته بیا د پیښوره خیژم

SAMSOOR.COM

ده د سائل د هنر دا ادا د نوی جهان
راځم منظر ته د بائیلات د پس منظره خیژم

○

د مینے خیاله ما د ژوند سحر ته اورسوه
ارمانه ما مِ د جانان نظر ته اورسوه

احساسه ما زما د فکر د رنړا نه جوړ که
ما مِ د ژبے او قلم سنګر ته اورسوه

چه تماشے پکښے د دواړو جهانونو اوکړم
ما مازیګر د پښتونخوا ګودر ته اورسوه

د ملاکنډ باده په ټول پښتون وطن والوځه
زما پیغام زما نه ورک دلبر ته اورسوه

اسمانه اور پکښے شامل که د جانان د نظر
دا د رنګونو ټال مِ هر یو غر ته اورسوه

SAMSOOR.COM

موسم راواړوه د اوښکو باران مۀ بس کوه
دا پښتنے جذبے د ګلو کر ته اورسوه

نوم د پښتون به دِ اسمانه په تندی لیکمه
سپوږمئی ته اووایه خبره نمر ته اورسوه
کۀ پروکی پړوکی دے راټول ئے که او غوټے ورکه
د فکر ټال مِ راروان اختر ته اورسوه

لکه د خیال د لیندے وتے یو تاؤ کړے غشے
زما اواز د ازادئے ځیګر ته اورسوه

یه د خوبانو د جمال د پرورش وطنه
ما د جلال د تماشو منظر ته اورسوه

دے ارزوګانو خپلے ډیرے بے ارزئے ژړلی
دا در په در خلک د مینے در ته اورسوه

یه د هستئے د مړوند خوبه شوګیرے غواړمه
ما د خپل کلی وطن شور و شر ته اورسوه

ورکیدۀ نۀ غواړم پخپله خپل تصویر جوړؤم
ژبے زما، ما مِ د زیره زور ته اورسوه

SAMSOOR.COM

پښتونه عشقه زهٔ ژوندے یم زهٔ به تل ژوندے یم
دغه خبر د دنیا هغے سرته اورسوه

اوس زمونږ سترګے دی ړندے به نهٔ شی مړے به نهٔ شی
دا ډیوے هر چنار ته هر نښتر ته اورسوه

حالات زما نه نادانی او جنون دواړه غواړی
عقله سائل د لیونتوب خطر ته اورسوه

○

چه اوم سیزی شمع په ژړا نهٔ شی شاعر شم
په مخ چه ئے یوه اوښکه هم رانهٔ شی شاعر شم

چه لےپه لے کوځه په ټوله دنیا چاڼر کړم
چه ورک زړګے مِ هیچرته پیدا نهٔ شی شاعر شم

د خدائے د لویه دره چه هم تشه لپه راؤړم
قبوله چه مِ دلته هم دعا نهٔ شی شاعر شم

چه هر خواته سپرلے وی په خاښو ګلونه اوړی
چه ماته پکښے یو ګل په خندا نهٔ شی شاعر شم

د ورځے خو زهٔ ټوله ورځ تږلے یم مزدور یم
د شپے چه ستا د یاد غیږ کښے خوب رانهٔ شی شاعر شم

په ډیرو چغو هم مِ خاموشی ورماته نهٔ کړه
چه سترګے ئے تصویر کړمه ګویا نهٔ شی شاعر شم

SAMSOOR.COM

نــن اووائـــی ســبا بــه دِ وژلـــو لــه درځمــه
وعده راسره وکړی خو رښتیا نهٔ شی شاعر شم

حالات څهٔ هنرور شی په خپل فکر مِ دوکه کړی
شپه تیره شی سبا شی خو رنړا نهٔ شی شاعر شم

څهٔ زر زر ئې پخـلا کړی چه ســـا ئـل ترے مرور
شـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــی
جانان چه مرور شـی نـو پخـلا نـهٔ شـی شاعر شـم

○

څـــهٔ پـــه لیونـــو لارو روان یـــواځې پـــاتې شـــوم
رانغـې پــه دے لارو جانــان یــواځې پــاتې شــوم

ستا د سپور وربل سایه مِ هم پاتې په سر نهٔ شوه
ســتا د تصــور پــه بیابــان یــواځې پــاتې شـــوم

ګل ګل پانړه پانړه مِ د څانګې څانګې توئې شوله
سم سیلئی سپیره کړم د خزان یواځې پاتې شوم

SAMSOOR.COM

ستا د یاد لښکرو هم په نیمه لار کښې پرېښودم
مخې ته راتلونکې ؤ طوفان یواځې پاتې شوم

خدائیګو کۀ یوه اوښکه مِ پاتې وی په سترګو کښې
څنګه به ترے اوغواړم باران یواځې پاتې شوم

شپه شوه حادثو د ژوندانۀ راپورے اوخندل
ساه مِ په سینه ورکړه ارمان یواځې پاتې شوم

اووئیل جانان چه سائل څوک دے او د کوم ځائے
دے
اودریدمه الق دلق او حیران یواځې پاتې شوم

○

کۀ مِ شوګیر کۀ مِ بیداره زندګی کړے ده
ما په قلاره بے قراره زندګی کړے ده
جانان د فن هسې تراشم فن د جانان په شانے
ما د جانان او فن دپاره زندګی کړے ده
لکه تسبیح د چا د تار د ثناء قید کښې نۀ یم
ما لکه ساز وتے د تاره زندګی کړے ده
ژبه عظیمه قام عظیم وطن عظیم لرمه
زۀ هم عظیم یم کۀ مِ خواره زندګی کړے ده
ما تل د خپله ځانه هم پټه کړه دا خبره
ما کله بے د انتظاره زندګی کړے ده

SAMSOOR.COM

ستا د وربل د تصور سوری ته شوے نۀ یم
ما په سور نمر په لاره زندګی کړے ده
چه ماته هیڅ نۀ وائی زۀ به ورته څۀ وایمه
ستا په تصویر کښې مِ حصاره زندګی کړے ده
چه تل مِ ستا د یاد ثنأ کړے شونډے غوڅے
ما خومره ډیره ګنهګاره زندګی کړے ده
شبنم مِ نۀ کړے خپلے اوښکے ستا د شونډو په ګل
ما په بهار کښې بے بهاره زندګی کړے ده
مونږ د جانان د ظلم زړۀ هم ازار کړے نۀ دے
مونږه څۀ داسې بے ازاره زندګی کړے ده
ستا د نظر خمار کاسے په بله اوړی
خو په ساائل دِ بے خماره زندګی
کړے ده

○

دا زر زر چه بدلیږی کیفیت څۀ وی جانانه
دا داغ چه مِ په زړۀ شی محبت څۀ وی جانانه

یا ټول جهان په زړۀ کښې وی یا زړۀ تنګ په یو تن شی
رقیب څۀ وی جانانه رقابت څۀ وی جانانه

SAMSOOR.COM

کۀ سترګے فرشتے شی نو دسترګو کار به څۀ وی
په سترګو فرشتو کښے شرارت څۀ وی جانانه

چه ویشتے نۀ دے تا د زړۀ نه خنګه وینے څاڅی
کۀ دا دعوه دروغ وی حقیقت څۀ وی جانانه

دا څۀ بے قراری وی چه پرے دوه زړونه درزیږی
فطرت څۀ وی جانانه اشارت څۀ وی جانانه

سپرلے د کومے راشی او د څۀ دپاره راشی
ګل څۀ وی او د ګل د شونډو ست څۀ وی جانانه

د هجر او د وصل ګل د مینے دوه معنے دی
دوزخ څۀ وی جانانه او جنت څۀ وی جانانه

○

اواز ازادول د تاره غواړی ادم خانه
خپل سر به ځارول د داره غواړی ادم خانه

دا سترګے ټکورونه د درخو د سترګو غواړی
دا سترګے په دے غر کښے لاره غواړی ادم خانه

SAMSOOR.COM

را ویښ به شي روحونه د دے لار د کاروانونو
یو څو تېږے په لاره لاره غواړي ادم خانه

د تیرو هیرو پلونو نه ګردونه پاڅول دی
دے دشت ته به وتل د ښاره غواړي ادم خانه

دا عشق دے چه سپرلی د ټول اولس دپاره غواړي
خو ګل خو د جانان دپاره غواړي ادم خانه

دا ډیره خاموشي مونږه په پټه خولهٔ مړهٔ نهٔ کړي
د ګل په شان به چاؤدے زاره غواړي ادم خانه

حالاتو ته ساه ډوبه شوه خو مونږ ته ډوبه نهٔ شوه
دا زړونه د خطر تراره غواړي ادم خانه

سائل د پښتونخوا هرے نغمے له ژبه
غواړي
خو دا ګناه مړهٔ نهٔ بیداره غواړي ادم خانه

○

څومره سازونه په شپیلئے کښے بندیوان پراتهٔ دی
څومره یادونه مِ په شونډو د ارمان پراتهٔ دی

SAMSOOR.COM

څومره لفظونه دي چه زهٔ پکښې اظهار کومه
څومره لفظونه مې د ژبې اويزان پراتهٔ دي

مونږ د يو بل قسم وطن د کوه قاف ښاپيرى
زمونږ د خيال په سينو بل قسم ديوان پراتهٔ دي

زهٔ د زمان او د مکان ترمنځه قتل شومه
ياران په غم کښې د زمان او د مکان پراتهٔ دي

مينه ئې نول شي نول ئې شي لکه د درد سمندر
څوک چه ترمنځه د يقين او د ګمان پراتهٔ دي

زهٔ چه هر چرته لاړ شم دے کوڅے له بيرته راځم
لا زنځيرونه مې په پښو کښې د جانان پراتهٔ دي

خدائے خبر دلته مې ؤ ښخ کوم ځواني مړګے ارمان
په تس نس خلې وچ ډنډرکي د ريحان پراتهٔ دي

په دے کوڅه کښې نن سائل او جانان غبرګ ژړلي
چه کاڼړي شګے پکښې ستوري د اسمان پراتهٔ دي

○

SAMSOOR.COM

ستا د فراق د اور کلونه مِ په شمار کښې نهٔ دی
خو بې له تا ژړلی ما په کوم بهار کښې نهٔ دی

ځار دِ شم تا ته د حالاتو په باب څهٔ اولیکم
اوس خو حالات هم د حالاتو په اختیار کښې نهٔ دی

هره ښکالو به دِ په زړهٔ د چړو لوبې کوی
داسې مزې هم د جانان په انتظار کښې نهٔ دی

چه پکښې تهٔ ئې ستا جمال پکښې سپرلی خوروی
داسې نور څهٔ څهٔ دی چه ستا په پری وار کښې نهٔ دی

چه ستا د سترګو نه ځوانئې له غواړی نوې ادا
لا د فطرت رنګونه اوس هم په خمار کښې نهٔ دی

کهٔ په قطار کښې شو دنیا به په ښائست پوهه کړی
خالونه ستا لکه د زانړو په قطار کښې نهٔ دی

SAMSOOR.COM

○

خال چه دِ په داغ زړهٔ د ریدی کښے څڅیدلے ؤ
هر ګل پړے نشه نشه ؤ ټول سپرلے پړے ښکلے ؤ

ستا پـه انتظـار کښـے اوښـکه وریـدلے ؤ
ستا نـوم مِ د شـمعے پـه شـغله بانـدے لیکلـے ؤ

هر ګل پرخه پرخه ښکاریدو سپرلی کمال کوؤ
ستا د غاړے هار ئے د هر ګل په مخ شیندلے ؤ

SAMSOOR.COM

ټول کائنات رپ نهٔ وهٔ ستا د تماشې نه پس
هر څیز ساه نیولې پښه نیولې دم ختلې ؤ

یو بغیر د بل نه همیشه نشت وی نیمګړې وی
ما چه تل احساس د انتظار په اور نیولې ؤ

دا د چا جمال ؤ چه دنیا ئې ائینه کړله
دا د چا جمال ؤ د کوم ځایه خندیدلې ؤ

هسې مو ساتلی پرهرونه په زړګو نهٔ وؤ
ژوند مو پکښې ستا د لیونی نظر کړلې ؤ

دړد مِ نن په خُوږ زړګی کښې خوږ خوږ د شپیلئې په دود
غلې غلې څړیکه څړیکه غوځ غوځ غږیدلې ؤ

خور مِ ؤ جمال په تصور جمال مِ نهٔ لیدو
دا فراق د چرته نه په وصل کښې راغلې ؤ

څومره دِ د مینې د غم اور بیدار ساتلې وؤم
خوب مِ په څنګل د خوب د سترګو تښتیدلې ؤ

زر ؤ او کهٔ پس سر به ئې هلته خامخا وهٔ
چرته چه سائل د ګلو تخم ریږولې ؤ

SAMSOOR.COM

○

رنګ مِ کړل په وینو د خیالونو تصویرونه
او مِ موندل نوے زمکے نوی اسمانونه

ستا یو تبسم زما یوے اوښکے جانانه
څو زره سوالونه کړۀ، څو زره جوابونه

نن په زلفو مۀ پاکوه اوښکے د خالونو
خوند نۀ کړی د ستورو په اننګړ کښے ماښامونه

هره ورځ مِ نوے تماشه ده جوړه کړے
هره ورځ مِ ګډ ګړۀ خپل غزل ته حسرتونه

تل مو سینګار کړی په دردونو پرهرونه
تل مو په دړدونو کښے ساتلی بهارونه

هر د هجر تږی له مِ شونډو ته کاسے کړے
ډوبے په شبنم کښے مِ لوندے سترګے ګلونه

مونږ چه کوم خوا وړی جنازے د ارمانونو
هغه خوا وریږی د سازونو بارانونه

هر څوک ه د شمیر د حد نه وتی دی دا څلی
بل دی په هر څلی د سائل د زړۀ داغونه

SAMSOOR.COM

# اندیش ته

اندیشــه تــهٔ شــاعر ئــے ســترګـور د زمــانے ئــے
زهٔ هــم د اولــس ســترګے زهٔ نظـر د زمـانے یــم

تهٔ درد ئے تهٔ نغمه ئے او تهٔ څړیکه د نغمے ئے
زهٔ ســوز او زهٔ فریــاد د زنــدګئی د تــرانے یــم

تــهٔ پنړکے د ایــرے ئــے تــهٔ بڅــرکے د لمبے ئــے
زهٔ ســوے لــوغړن یــم سپیلنے لــوګـے یــم

تهٔ شور او تهٔ استاذے د ژوندون د میخانے ئے
زهٔ مئے او زهٔ سرور او زهٔ ساقی د پیمانے یــم

تهٔ حسن ئے تهٔ ګل ئے تهٔ غنچه ئے تهٔ سپرلے ئے
زهٔ اوښــکه د شبنم یــم زهٔ خنــدا د تماشــے یــم

زمــا او ســتا د راګ او د نغمــے جذبــه یــوه ده
زما او ستا د ژونـد د زړهٔ چاؤدون قیصه یـوه ده

د ستا شعر په هر حال کښے زما د زړهٔ خبره
زما شعر په هـر حـال کښـے د ستا د زړهٔ خبـره

د ســـتا شـــعر د میـــنے او ښـــکلا د زړهٔ خبــره
زمــا شــعر د خــوږ ژونــد د خنــدا د زړهٔ خبــره

د ســـتا شـــعر د درمنـــد د لالا د زړهٔ خبـــره
زمــا شـــعر د غــر او د صـــحرا د زړهٔ خبـــره

د ستا شعر د ژوبل مسیحا د زړهٔ خبره
زما شعر د وړونکي ناخدا د زړهٔ خبره

ستا شعر د مئین نظر د غلا د زړهٔ خبره
زما شعر د ښے ځوانے ادا د زړهٔ خبره

د ستا شعر د لوئے پښتونخوا د زړهٔ خبره
زما شعر د لوئے پښتونخوا د زړهٔ خبره

د ستا شعر د دے لوئے دنیا د زړهٔ خبره
زما شعر د دے لوئے دنیا د زړهٔ خبره

زما او ستا د ګل او د ازغي تصور یو دے
زما او ستا د ژوند د سپرلي تصور یو دے

تهٔ سترګو ته تور غواړے تهٔ نظر ته رنړا غواړے
زهٔ سترګو ته شوخ غواړم زهٔ نظر ته ادا غواړم

تهٔ حسن تهٔ د رنګ او تهٔ جبین ته خندا غواړے
زهٔ حسن ته د وینے د خالونو ګډا غواړم

تهٔ ورک په ښاریه د ارمانونه لیونے ئے
زهٔ ورک په ورشوګانو د حسرت بیابانے یم

تهٔ درد ئے د شعور تهٔ د احساس د زړګي سوے ئے
زهٔ ژوند د مصور، روح د تصویر د نظارے یم

تهٔ الوزے اسمان ته په وزرو د فکرونو
زهٔ ناست یمه په زمکه کرکوؤم د ارمانونو

SAMSOOR.COM

SAMSOOR.COM

## یادونه

**ګرانه نظیر خیاله ډیره مینه...**

**خط دِ راغې د رهایئی په هکله زمونږ امیدونه هم هغه دی. ګهبراویږه مهٔ. خدائې به خیر کړی. انشاءالله دربه شم. د ټیلیفون کوشش به کوم. د حلوا خبره دِ هیڅ عجیبه نهٔ ده. ستا فرمائیش په سر سترګو.. خوشحاله په دے یم چه دغلته خیر**

خیریت دے. ژوندے یم هیڅ غم مهٔ کوه.
مارکیټ څهٔ رنګے دے. دا یو څو یادونه مِ اولیکل
خو ګورئے څوک خو به پرِ خفه نهٔ شی.
لږ په احتیاط ئے پیش کهٔ هسے خو ما د ګپ او
مینے په خاطر داسے اوکړهٔ خو بیا هم زما مقصد د
هیچا شان کښے ګستاخی نهٔ ده. ولے هغه د ګران
خبره چه:

د ګران زړګیه ټق چوؤدلے نشهٔ ئے
خو چه خفه د خلکو زړونه نهٔ شی

روره ګرمی خو خدائے شته دومره نهٔ ده. بس نشهٔ
د ګوزارے ژوند دے. البته کهٔ بهر وتو نو ګرمی
به محسوس کوو. مونږ هم انتظار څپلی یو خو
څهٔ اوکړو، بس په طمع اوسئے او مونږ هم کلک په
طمعه یو. باقی د وس خبره نهٔ ده نو نورے
خبرے به سره مخامخ کوو، کهٔ خیر وی، هن
خط رالیږه خیر دے.
ټولو ملګرو ته سلامونه.

ستا سائل

۱۲-۰۷-۱۹۸۱

ډی ائی خان جیل

SAMSOOR.COM

## نظیر خیال

یه د سترګو تور، زړهٔ دسماله ،نظیر خیاله نن
اووایه یارانو د مارکیټ ته د قیدی سلام
هغهٔ وخت د تود سپرلی د غیږے شوکیدلے ؤم
زهٔ د ډیرو جیل ته د لمبو سره راغلے ؤم
ماته د مارکیټ یارانو لږ کتلی وو کنه
زهٔ ګل خندیدم هم پاڼږے پاڼږے ریژیدلے ؤم
تهٔ هغهٔ وخت نوے چه دِ دا تماشه کړے وے
ټال د جدائی باندِ یواځے زنګیدلے ؤم
ورک شو لیونے سائل قلاره قلاری شوله
چا چه څهٔ وئیل خوښه ئے خپله زهٔ ترے تلے ؤم
دلته مِ سپرلے زړهٔ حواله کړو خزانو ته
زهٔ خو چه راتلم د پسرلو سره راغلے ؤم
هغلته هم هغه لیونے سپیره سائل ؤمه
دلته کښے هم هغه سوے لوے شان سائل یمه
هغلته مِ هم د زړهٔ ټوټے راغونډے نهٔ کړلے
دلته هم ټوټے ټوټے زړګی ته ناست پاګل یمه

بیا هم د مارکیټ هغے خوږو ترخو یارانو ته
وایه نظیر خیاله د یو تیر او هیر قیدی سلام

SAMSOOR.COM

## مهردی

خیر کۀ زما نۀ کوی تپوس چه قیدی څنګه دے
په نظیره مړ دے کۀ ژوندے دے مهردی څنګه دے
هغه صراحی چه په ختٔ ختٔ ترِ شراب اوڅاڅی
خور چه وی مدام په خندا ګل د ریدی څنګه دے

## لالون

غـټے غـټے سـترګے او کاتـۀ پکښـے واړۀ واړۀ
هغسے اودۀ دے او کـۀ نمـر پـرِ راخـتلے دے
لښـته د چنـدنړو ئـے تـاؤ کـړے ده کـۀ نـۀ ده لا
نن سبا په کـور دے کۀ تانړے ته تښتیدلے دے
هغـه پـه لوګـو کښے کلـه کلـه چـه بـه الوتـو
اوس هم په هوا دے کۀ نۀ خپل کور ته راغلے دے
ویښ ئے کۀ خوب کوی کۀ نۀ وی راپیدا ئے کۀ
ښۀ ئے په ژړا کۀ پس د هغے په خندا ئے کۀ

## اسلام موچی

شته کنه په قد لکه د سروے او په رنګ ګلاب
هغه د ازغو ازغو نه ډکه ځوانی دنګ ګلاب
خلکو له شپیلئے جوړئی کۀ خلکو ته تپے کوی
کار کوی کۀ یو بل ته هم هغه شان قیصے کوی

SAMSOOR.COM

## ګل او نظیر

ګل او نظیر دواړه چه په جنګ وی په دوکان کښې
زۀ ئې تماشه کووم روژه وی او ګرمې وی
کله کله شپه چه رونړوؤ درز او غوبل وی
یو خوا چمیاری ګرمه او بل خوا ټیلری وی
څۀ به لوبه ګرمه وی خندا به وی نغمې به وی
خوا کښې چه مِ ناست دا نازولی ښاپیری وی

## زورزمین

شوخ او خندنے خندنےوچ کړکئ کړکئ بدن
هغه بیمارئے ځپلے ښکه دے او چرته دے
هغه چه مارکیټ ته راروان به په ټوپونو ؤ
ناست دے په مارکیټ کښې او کنه اوتے ګودر ته دے

## احسان الله

ستا خندا او ستا ټپه کوټه د منزری بابا
هغه په جانان پسے ژړا د سیف الله ژړا
نۀ به مِ تۀ هیر شے نۀ هغه نۀ هغه شپه هیره
هغه د لاسونو پرقول او لیونئے ګډا

SAMSOOR.COM

## وړوکے شیرعلی زما کشر ورور

هغه چه یو وړځ ترِ نه پیالئے مارکیټ کښے ماتے شوے
خلکو چه لاس پړق وهل او تا ورته کنځل کول
هغه شرم ګیر شیرعلی اوس هم چرته شته کنه
چا چه به مارکیټ کښے د تنزری غوندے تلل کول

## بنړیا

دلته یو بنړیا ؤ په خوړه خولۀ به ئے خوړل کول
دلته ئے مارکیټ کښے د لرګو ټال لګولے وۀ
مړ دے کۀ ژوندے دے د مارکیټ چکر وهی کنه
درے ګزه سلام ئے ماته جیل ته رالیږلے وۀ
خلک څۀ هوښیار دی د قیدیانو یاری نۀ کوی
خلک دَ بے دره چنګنړیانو یاری نۀ کوی
یه ساده سائله په چِټِئ اتۀ انے لګی
ځان کۀ ناغرضه اخر څۀ په بهانے لګی

وخت بۀ راشی ښۀ مضبوطه غاړه به ملاؤ کړو
پوخ بۀ د اومو بانو د وریژو نه پولاؤ کړو

وایه قیصے ښے دی خو د زړۀ علاج پرِ نۀ کیږی
ستا په مزدورئ ګلی بند کیږی تاج پرِ نۀ کیږی
هسے نۀ چه دا لوږه ځوانی درنه رانښکته شی
ستا د چنغلے پایئے د مینے درته لته شی
دا دِ د سور وخت دے نشه کیږه اودۀ کیږه مۀ
کار کوه، ماښام کورته په منډه ځۀ اودریږه مۀ

SAMSOOR.COM

## حبیب ګل نمبر ۱

پلار د لالون ښڅکه دے او یار د سائل ښڅکه دے
ستا حبیب ګل ښڅکه دے زما حبیب ګل ښڅکه دے
دومره ورته وایه چه سائل درته سلام کوی
پس د یو سلام نه درته دارنګے کلام کوی
ښکے چه وی باران او ستا دوکان پکښے راوڅاڅی
تۀ په ځان اخته شے مونږ په چرت ټپے کوو پکښے
شور د لیونو مارکیټ په مخه رااختے وی
وریژے په اور باندِ وی لاسونه پرقوو پکښے
ستا حبیب ګل یار چه راته غلی او خوارخوار ګوری
مونږ پوتی دَ یو او بل د مخے تختوؤ پکښے
دے وی دننه ناست مونږ ورته ست قدرے هم نۀ کوو
دا د پتیلو سرونه شرنګ شرنګ تنګوو پکښے

دغه پروګرام به خامخا کوو چه درشمه
ډیره لرے نۀ ده یاره زر بۀ دربهر شمه

## حبیب ګل نمبر ۲

ګرانه نظیر خیاله نمبر دو حبیب ګل ښڅکه دے
زیات دے په پلنو کۀ په اوږدو حبیب ګل ښڅکه دے

SAMSOOR.COM

څهٔ مقدمو خوار کۀ او څهٔ  دَ داؤ د خان وادهٔ
خلاص کړی دَ ایمانه سړے نن سبا دے ګران وادهٔ
دغه څهٔ کے دغه ګیاره باره پړِ هم تیره شوه
لویه شپه د ژمی ناقلاره پړِ هم تیره شوه
اوړے شولو اوس دِ په دوکان کښے منزرے کوی
ځان ته دِ کنځل کوی دوکان ته دِ ښیرے کوی
یا دِ کوی خوب یا په مارکیټ کښے دِ چکر وهی
څوک ئے کۀ په سر وهی نو دے دِ ئے په ښکر وهی
او فلانیه او فلانیه بړے ګړے هر وختے
ډنډے ختے سخا چقړے خړے لړے هر وختے
زهٔ وَم بدقسمته چه شریک ئے په ښادئی نهٔ شوم
زهٔ جنجی د خپل داؤ د وارهٔ د سرے ډولئے نهٔ شوم
کاش چه داؤ د خان په سور پالنګ باندِ ختلے وے
یو بازو دَ کټ ئے سائل هم په لاس نیولے وے
نهٔ وه په قسمت کښے د سائل دا خوشحالی وایه
وایه حبیب ګل ته مِ بیا بیا مبارکی وایه

## ابراهیم

تله ئے د کوتر هسے پاپئے ئے د تنزری دی
سترګے ئے د باز هسے ویښته ئے د ګڼوری دی

مونځ پیژني، خوب پیژني کور او دوکان پیژني
مور پیژني، پلار پیژني صرف یو ځان پیژني
ضد ئې د خانانو چل او ول ئې د ښاریانو دے
هم خپله بابا دے هم ئې خوئې د ماشومانو دے
نشته په مارکیټ کښې ځوک ددهٔ په شان ښټک ښټک
دے او پلار ئې ټک په ټک او دے اوزوی ئې ټک په ټک
ټوله دنیاګۍ د دهٔ یو ځو ښکلي پټوان دي
دغه ئې ګلونه د ژوندون د ګلستان دي
نهٔ خاندي چه خاندي تهٔ به وائې چرته ډزے وي
چتے دے خودا ئې د مستئې او ځوانئې ورځے دي

ژوند دے، کږے لارے، دے روان پرِ په اټکل دے
ښکاري سم سړے خولږ په زړهٔ باندے درغل دے

SAMSOOR.COM

# تصویر

تهٔ ئے منے او کهٔ نهٔ
خو ماته ستا روح بے قراره یو اواز کړے ؤ
ماته ئے وے سائله
درته یوه پټه خبره کوؤم
ما دَ حالاتو نه تخلیق کهٔ
او تصویر مِ کهٔ
بے قرارئے سترے کړم
کهٔ چرته ستا د فن په غیره کښے قرار اوموم
ته ما تخلیق کړے او تصویر مِ کړے
او دَ خپل زړهٔ په دیوالهٔ پورے مِ ځوړند کړلے
داسے تخلیق داسے تصویر مِ کړے
چه اوس تصویر نهٔ ئے خبرے کوے
خو دغه ستا تصویر
زما تخلیق د ځان سره وړے
کهٔ نهٔ دا ماته پریږدے
دا فیصله اوس ستا خوښئے او ستا معیار ته پریږدم

SAMSOOR.COM

SAMSOOR.COM

# پښتون

وختــه پــرون کــهٔ تــا ویشــلے کــهٔ وژلــے پښــتون
نــن ئــے مــنے کــهٔ نــهٔ مــنے خــو زیږیــدلے پښــتون

ټول به لؤ نهٔ کړی دا همه جهان به سترِے شی پرے
مونږه څهٔ داسے په هر غر او سم کرلے پښتون

هغه تختئی چه پرے لیک شوی د نړئی قامونه
پکښے په سرو وینو په زور دے ځان لیکلے پښتون

مــنم چــه بــام تــه د شــعور بــه رســیدلے نــهٔ وی
خو هم په دغے پوړئی څو پاټکی ختلے پښتون

وی به نالوستے خو دا چا ته چه نالوستے ښکاری
دغے لوستلو خلکو هم نهٔ دے لوستلے پښتون

وینو ئې شونډې ګواهئی له د تاریخ سرې کړی
لکه د ګل په خپل پرهر کښې خندېدلې پښتون

نمر د مرام به ئې تندې په پلوشو اووینځی
ځان د سرو وینو په سیلاب کښې رانیولې پښتون

حالاتو څۀ په بې دردئی کۀ په مخ مخ نوکارې
ولې په داسې حال کښې هم دې بلا ښکلې پښتون

د غیریت پردې شلوی لکه فنکار په هنر
د پردی کلی نه خپل کلی ته راغلې پښتون

په خپلو سترګو کښې ئې بلې دی اوس خپلې ډیوې
پخپلو سترګو دې پردی عالم لیدلې پښتون

پښتون په خپلو لاسو، خپلو مټو، خپلو ګوتو
لکه د سوال قطره پردی اور ته نیولې پښتون

پښتون پښتون دې خپله خاوره خپل وطن ئې نۀ خوری
دا خو څو خپلو په پردو خلکو خوړلې پښتون

چه پریوزی یو سر وی چه پاڅی وی زرها سرونه
داسې پریوتې پښتون داسې پاڅیدلې پښتون

دنیا د دۀ تماشې کړې، دۀ دنیا تماشې
په دې دنیا پورې دنیا ده خندولې پښتون

SAMSOOR.COM

په هر حالت کښې ئې لرلې په سرتاج د وطن
په هر حالت کښې د عظمت دولت لرلې پښتون

د خوشحال خان د ننګ او پت د مستو مئيو خمار
د باچاخان د تصور په کنډول څکلې پښتون

ورته د هر دور تاريخ څومره درانهٔ کتلې
دنيا په څومره سپکو کانړو ؤ تللې پښتون

پښتون زمرے ؤ دا زمرے پردو وژلې نهٔ شو
کهٔ ورته خپلو نهٔ وے بند په بند تړلې پښتون

څنګ ئې د هر بازاره خپل سر سلامت راوړے
خپلې انا لکه جانان نيازبين ساتلې پښتون

هغوئې په پتو کښې د لاس شو کهٔ بايللې پښتون
مونږ د خپل لاس پتو کښې اوښودو کټلې پښتون

هغوئې نعرے کړے ورک شو، مونږ وے خبردار موجود دے
هغه مغرور پښتون دے، هغه نازولې پښتون

پرون ئې ؤ، نن ئې هم شته، سبا به هم اولری
کهٔ ژړيدلې، دړديدلې، تزنيدلې پښتون

د پردے شاته دے په خولهٔ ئې پروت دے لاس
سائله

SAMSOOR.COM

پخپل وطن کښې ورک دے، نۀ دے چرته تلے پښتون

○

څو به د زړۀ درزا په "لے" ستا د سلګو شمارم
تر څو به ګوتې په مثال د ليونو شمارم

تۀ به خپل وران خالونه څو په ائينه کښې شمارې
زۀ به څو ستا اوښکې په څوکو د بڼړو شمارم

زۀ د ژوند خيال، لکه چه قيد يم ازادی غواړمه
د زولنو په شړنګ، شړنګ شړنګ ستا د بنګړو شمارم

زۀ او جانان اوشوے مودے چه د يو بله ورک يو
سحر ماښام د بيلتانۀ د ورځو شپو شمارم

ګرځمه زۀ هم د وطن په سيل راوتے يمه
سوی ګلونه د وطن د ګلدرو شمارم

د شونډو پاڼړے مې شی پاڼړے د خزان والوزی
پاڼړے چه زۀ د خپل تاريخ د سپارو شمارم

نظر مې ربی په نظر کښې مې جنډے اورپی
بتکی چه زۀ د خپلو لويو استانو شمارم

د بيټ نيکۀ دعا قبوله شوه، رشتيا نۀ شوله
تش تش سرونه د بائللو پښتنو شمارم

نمر ته په طمع د سائل د خپل جانان د

## دیــــــــــــــــــــــــــــــدن

هــره شــپه ســتوری د اســمان پــه کنــارو شــمارم

ټـل 2005/3/28

SAMSOOR.COM

# ټږون

# د ډاکټر صابر په نوم

مـونږه بـایلونکی خلـک،مونږه ځـان ګټـوونکی خلـک

مونږ به یو تلونکی خلک، مونږ به یو راتلـونکی خلـک

مونږه کۀ نۀ یو هم نو یو به، مونږ به چرې نۀ مرو
مونږه د زړونو په انګنړ کښې اوسېدونکي خلک

مونږ به په مرګ هم د خپل ورک جنت دعوه پرې نۀږدو
مونږه د خپل ژوند د جنت نه راشړونکي خلک
مونږ به د ژوند دپاره نوې تماشه جوړوو
مونږ د دارونو په سرونو ګډېدونکي خلک

مونږ د عمل د روایت د امانت لېوني
مونږه د غرونو سره تل تل جنګېدونکي خلک

مونږ دِ زمونږ د الفتونو یاران مړۀ نۀ ګنړي
مونږه د مرګ نه پس واپس رازېږېدونکي خلک

په مونږ زمونږ غم خاموشي راپېرزو کړې نۀ ده
مونږه ګویانه خلک مونږه غږېدونکي خلک

مونږ یو چه وران کړو زړونه، مونږ یو چه راجوړ کړو زړونه
مونږ ورانوونکي خلک، مونږه جوړوونکي خلک

په دې هنر هر علامت تصویر کوو د ژوندون
مونږه د زلفو په ټالونو زنګېدونکي خلک

مونږ د "درخو" په بنړو تیروبیر بنړلی زړونه
مونږ د ادم د رباب سوز کښے سوزیدونکی خلک

په ژوند هم رنګ ویشی سا ئله رنړاګانے ویشی
د مرګه بس هم د رنړا او رنګ ویشوونکی خلک

خلورم اپریل ۲۰۰۷- پیښور

○

SAMSOOR.COM

هر څو هم کۀ هیڅ چل د ژوندون ماله نۀ راتۀ
د ژوند جنون مِ دا ؤچه مرګ خواله نۀ راتۀ

بل هیچا پیژندے نۀ شوے زما د "بخت" کړمے
بدبخته په هیڅ چل زما تر خیاله نۀ راتۀ

دا قام په کومه تلے ؤ د خپل تاریخ د کوره
لوئے قام ؤ خو د خپل مړی ژړا له نۀ راتۀ
مونږ ډېرے ته مودے اوشوے چۀ نۀ شو د غرمو نه
د خپل دیوالۀ سورے تر دیواله نۀ راتۀ

شائد زما حسونه پردی شوی ؤ زمانه
نن ستا د خولو بوئے ستا د دسماله نۀ راتۀ

شغلے مِ د شهید زړګی د داغه پورته نۀ شوے
پیغام چه ادیرے ته ستا د خاله نۀ راتۀ

تاریخ خو ما ته ستا په حقله بل څۀ وو وئیلی
پښتون خو به خپل کور ته چرے غلا له نۀ راتۀ

SAMSOOR.COM

کـۀ ډېـره ورتـه مـا د مسـتقبل سـندره اووے
ماضي مِ نـوکے چـرخے کړے تـر حالـه نۀ راتۀ

دا ښه شوه چه تا سترګے څۀ وئیلو ته کړے پورته
جـواب رالـه راتـۀ ولـے بـے سـواله نـۀ راتـۀ

يـخ پـخ ؤ د ســـــا ئـل د هنرونــو تصــويرونه
چـه سترګو لـه ئـے تـاؤ سـتا د جمالـه نـۀ راتـۀ

۲۰۰۲/۱۱/۸

پېښور

SAMSOOR.COM

# "او دا ګلزار دے"

او دا ګلزار دے
د ګلونو د خوبونو فنکار

د سرو لمبو لمبو ګلونو فنکار
د ژوند د سوو سوو زړونو فنکار
د ليونتوب د تصويرونو فنکار
د زړهٔ په سر د پرهرونو فنکار
د پرهرونو د دردونو فنکار

او دا ګلزار دے

د پښتون د ارمانونو ګلزار
د پښتنو د انقلاب د ترانو ويونکے
د پښتنو د تيرو هيرو زمانو ويونکے
د پښتنو د لړزونکو افسانو ويونکے
د ليونو جذبو ويونکے ليونے ويونکے
د ژوند پرستو د نيمګړے افسانے ويونکے

او دا ګلزار دے
هم هغه ګلزار دے

زهٔ به ئے نهٔ پيژنم
تهٔ به ئے نهٔ پيژنے
او دا ګلزار دے
هم هغه ګلزار دے

د پښتنو د ترانو ويونکے
د پښتنو د تلوسو ترجمان

SAMSOOR.COM

د پښتنو د ارمانونو اواز
د پښتنو د وسوسو ترجمان

اوس ئے د شونډو نه تارونه وتی
اوس چه خندا ورشی خندلے نهٔ شی
اوس ئے د سترګو سمندر اوچ شوے
اوس چه ژړا ورشی ژړلے نهٔ شی
اوس ئے د ژبے سر تنړاکے پروت دے
اوس پرے د یار ثناٴ وئیلے نهٔ شی

او دا ګلزار دے
هم هغه ګلزار دے

اوس ئے په زړهٔ کښے د سندرے ارمان قید ساتلے
اوس پخپل زړهٔ کښے د سندرو لیونئے کوترے
په پنجرو بندے ساتی
سحر ماښام ورته په تته ژبه
په غلی غلی اواز
نهٔ اوریدونکی اواز
په رو رو وائی چه بهر مهٔ اوځئ
بهر حالات ښهٔ نهٔ دی
بهر په کلی کښے په هر ګوټ پیر کښے
پام کوئے یو نه یو قاتل ولاړ دے
بهر فضا کښے د بارودو بندکی ډزیږی

SAMSOOR.COM

په ټول وطن کښې د بارودو بوئے دے

او دا ګلزار دے
هم هغه ګلزار دے

دا ئے دوکان کړے دے
خپل کاروبار له دوکان
په دے دوکان کښې نۀ تبله او نۀ باجا پرته وی
په دے دوکان کښې نۀ رباب نۀ سرینده پرته وی
په دے دوکان کښې کۀ سحر شی کۀ ماښام شی، شی دِ
دلته اواز قیدی وی، دلته کښې ریاض نۀ کیږی
نو تۀ به وائے چه بیا دا دوکان د څۀ دے؟
په دے کښې څۀ خرڅیږی
نو یه زما د جنون ډکه لیونیه اشنا
د پښتنو په ترانو مئینه

اوس ستا د مینے او د ژوند د ترانو ویونکے
ستا د ماضی او مستقبل د افسانو ویونکے
ستا د خوږ زړۀ د تلوسو ویونکے
ستا د ننګ پت او د غیرت د ولولو ویونکے
ستا د خوبونو او خیالونو د سندرو مجرم
په دے دوکان کښې اوس د هغو لیونو سندرو
ریاضت نۀ کوی کباب خرڅوی

SAMSOOR.COM

د دهٔ په شونډو قتل شوے نغمے
او قتل شوو نغمو يخ لاشونه
به دے تر څو په اوږو
د ځان سره ګرځوی
د دے نغمو دپاره
به د کفن دفن څهٔ غم په کاروی
ولے کفن دفن له
خو هم سړی په کار احساس په کار دے
ولے په دے ميدان خو
چه سړے هر خوا ته نظر اړوی
په هر طرف يو اديره ليدے شی
شپه راشی ورځ تيره شی
شپه تيره بيا سحر شی
خو د دے لوئيے اديرے په خوا کښے
څوک ژوندی خلق په نظر را نهٔ شی
اخر د دغو قتل شوو نغمو
مړی به څوک ښخوی
او د زړګونو نغمو مړو له به
په دے پښتون وطن کښے
داسے د سرو سره تللے زمکه
بے حده ګرانه زمکه څوک ورکوی
دغه فنکار د کرائے د دوکان

SAMSOOR.COM

چه نن کباب خرڅوی

او د نغمو لاشونه

په خپلو ستړو اوړو

سحر ماښام ګرځوی

دے له به دومره بلا ګرانه زمکه

اخر په څهٔ شی اخلی

۲۳ اګست ۲۰۰۷

پیښور

SAMSOOR.COM

د غزل خوب ته مِ د نوی ژوندون خیال راوړه
زما " درخو" چرته په سترګو کښے خو سوال راوړه

نن مِ والله بلا بلا په زړهٔ را اووریدے
نن لکه غیروغشے راشه او وصال راوړه

کال پس انکار له راغے، راغے او په مخه لاړو
دا مِ جانان ما له تحفه د نوی کال راوړه

داغ مِ د زړهٔ د"ریدی" اونهٔ کړے شغلے محبوبے
تهٔ چه راځے نو خامخا په زنه خال راوړه

تا پرهر کړے زړهٔ مِ اوس هم وینه نهٔ بس کوی
د لوپټے ګل دِ رسوا نهٔ کړی دسمال راوړه

زما د خوږ سترګو دردونه پکښے نغښتی یوسه
اور د جمال په اننګو کښے د جلال راوړه

پاتے ترِ ستا د تصور تصویر نیمګړے نهٔ شی
د خپل سائل د هنر ګوتو له کمال راوړه

SAMSOOR.COM

○

څهٔ په هوښيارو ليونو سترګو دِ واړولم
نصيبه څهٔ په خونړو سترګو دِ واړولم

نشه مِ داسے کړی چه کړی مِ تماشه تماشه
څهٔ په نشو په تماشو سترګو دِ واړولم

پرهر پرهر په وينو سور نښهٔ ئے نادان زړګيه
غشی ترِ دانګی په ليندو سترګو دِ واړولم

عشقه د کوم ارمان ځواني درته رایاده کړمه
د پيغلو پيغلو په ځلمو سترګو دِ واړولم

خوب به ترِ څنګه په څنګل د شوګيرو اوکړمه
څهٔ په بيدارو په اودو سترګو دِ واړولم

يه زما ګران زما مئين زما دشمن زړګيه
چه ئے وژلم په هغو سترګو دِ واړولم

چه پکښې ځان ته ګورم مات مات پکښے ځان وينمه
په ماتو ماتو ائينو سترګو دِ واړولم

اوس به سائل خوری تندکونه، چوے نهٔ تهٔ
زړګيه
په داسے ډکو پيمانو سترګو دِ واړولم

SAMSOOR.COM